

داد بلدیی دشفا خانی یوه ښکلی منظره ده .

نه پېژنی

د توري شپې ویده غافل دی سبا نه پېژنی
دا لصلوة ناری نه اوری ملا نه پېژنی

تو تی د جهالت او د نفاق په توره — په کټ کښې پروت دی خپل طبیب او دوا نه پېژنی
وینې می وچې شوی په ستر گو کښې دده له غمه — په غټو ستر گو د غه وینې ژړا نه پېژنی
سره دعلمه یی رسوا شومه په مینه کښې زه — دی لا تر اوسه خپل دمینی رسوا نه پېژنی
سوچه پښتون ؤ شو بی ننگه از برای خدا — دین وایمان په پیسه پلوری خدا نه پېژنی
ما په وفا کښې ورته سرومال په دو کښېښو دل — جفا د بل یی کړه پسنده وفا نه پېژنی
رقیبه پر ېږده دا ساو وقوم دې خوار کړلو ډېر — له نا پوهیه خپل سبا او بیگا نه پېژنی
مشکله نه ده که دخوارو بزه گاره وی څوك — مشکله دا ده چه ها دی او گدا نه پېژنی

زه قلندر یم په کچکول کښې جها نو نه لرم
وا یی فقیر دی راته گوری او ما نه پېژنی

(قیام الدین خادم)

د جدی ۱ | د ربیع الاول ۲٤ | د دسمبر ۲۳
۱۳۳۰ ش | ۱۳۷۱ ق | ۱۹۵۱ ع

د (۲۱) کال | (۱۹) گڼه

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره

ادبی اجتماعی، تاریخی مجله

دپښتو ټولنی دلوی مدیر

صدیق الله رشتین

ترکستنی وروسته خپرېږی

پته ، پښتو ټولنه ، دابن سیناواټ

تلگرافی پته ، کابل ، پښتو ټولنه

د تیلفون لمبر ۱۰٤۷

ددې ګڼې لیکونه

لیک	لیکوال	مخ
شکایت څه که کومك ؟	ښاغلی صدیق الله (رشتین)	۱
افغانستان او پښتو	د قیام الدین (خادم)	۵
دلور	د محمد کلاب (ننګرهاری)	٦
عبدالصمد خان	د ښاغلی عزیز الرحمن (سیفی) ترجمه	۸
په افغانستان کښې د آرکیالوجی تحقیقات	ښاغلی حفیظ الله د منیر د	۱۰
لېونی خو بونه	ښاغلی امیر حمزهٔ (شینواری)	۱۳
دحق اعلان	ښاغلی عبدالمنان (دردمند)	۱٤
شعر	ښاغلی مطیع الله (برخیل)	۱٦
دخیال دنیا	ښاغلی نقیب الله (نقیب)	۱۷
زموږ دیمو کراسی دنیا څه وائی ؟	ښاغلی محمد عالم (اتمان)	۱۸
ووایه داسری خوك دی ؟	ښاغلی باور (رحیمی)	۱۹
دلیکونکی مهارت	د ښاغلی نور محمد (تره کی) ترجمه	۲۰
دمستعمرو تصفیه	د ښاغلی جرار پښتو ترجمه	۲۲
آه خومره ښه ساعت او خومره خوږه شپه ؟	ښاغلی پاینده محمد (روهیلی)	۲٤
دعبدالحمید مومند دیوان	ښاغلی صدیق الله (رشتین)	۲۵

شکایت ښه دی که کومك؟

کله کله په یو نیم ځایکښی دیو نیم سړی له خوانه اوریدل کیږی چه د کابل مجله اوس تنقیدی مضامین نه لری، او له پخوانه معتدله شوی ده، دا خو دیوې ډلی تنقید دی بله ډله وایی چه د کابل په مجله کښی لوړ علمی او ادبی مضامین نشته او مضامین ئې په متوسطه درجه دی. په دې ډول ځینی نور واړه غټ شکایتونه هم کله کله زمونږ غوږونو ته رارسیږی له دې کبله مو وغوښتل چه په دې باره کی د کابل مجلې له لوستونکو سره یو څو خبری وکړو، یو سړی ؤ په بازار کی ئې په سپی پسی منډی وهلی، چاورته وویل په سپی پسی ولی زغلی؟ ده ورته وویل غوږ ئی رانه تښتولی دی، هغه ورته وویل غوږ خو در پوری دی، خپل غوږ ته نه گوری او په سپی پسی منډې وهې! په اکثرو کسانو دغسی ټو که هم کیږی او ځینی کسان خوبی له یوه اصلاحی غرض او ښه نیت څخه دځینو غرځونو دپاره دخپلو خبرو بازار گرموی ځان په هر ځای کی نیغ نیغ کوی، خیال کوی چه زه په هر څه پوهیږم حال دادی چه په هیڅ شی هم نه پوهیږی. خو هغه کسان چه دمعتدل او صالح مزاج، ښه نیت او ښه زړه خاوندان نه دی، دهغو سره خبرې کولو یا دهغو قانع کولو ته مونږ هیڅ ضرورت نه وینو، بلکه زمونږ کوشش دادی چه دپوهو، معتدلو مزاجو او نیت په خیره کسانو ه قناعت حاصل کړو. خبری خو ډیری دی او بحث چه سړی هر څومره وغواړی هغومره اوږدیدی شی، لاکن ښه داده چه خبره په لنډو فیصله شی او اوږده کشاله ترې جوړه نشی.

قصه داده چه دڅه لیکلو او یا لوستلو په باب کی ذوقونه او طبیعتونه بالکل مختلف دی، څوك یو رنگ مضامین خوښوی، څوك بل رنگ، دچا مینه دخط و خال، تور و ستر گو، نرو و روځو سره وی څوك دقوم او ملت دغمونو او دردونو په ویراخته وی. څوك قصی او افسانوې خوښوی، څوك دگرامری او لغوی څېړنی لیوال وی. دچا داقتصادیاتو سره ډېره علاقه وی څوك په تاریخ او سنو یاد ولو مین وی، څوك سیاسییاتو سره دلچسپی لری غرض دا څنگه چه دبنیادمانو رنگونه او فکرونه سره بیلوالی لری دغسی ذوقونه هم سره مختلف دی

(وللناس فی مایعشقون مذاهب) په دې اعتبار هیڅوك نشی کولای چه یوه مجله یا یو اخبار دټولو خلکو دمیدان اوذوق سره ټکی په ټکی سمه وچلوی .

په دې باره کښی دمتوسط محیط منځنی ذوق او فکر داحترام وړدی اوبس . داخبره څه دومره سختی نه لری چه مونږ په علمی برخه کښی دسقراط، افلاطون، ابن سینا، کانت، دیکارټ، گالیله او نورو فلسفی کتابونو نه راواخلو او نشرئې کړو داهم گرانه نه ده چه په ادب باندی یوه لوړه څېړنه و کړو چه دجگو ادیبانو تنده هم پرې ماته شی، یا په گرامر کی یو داسی تحقیق وکړو چه دفا کولتی استاد هم ترې گټه واخیستی شی، لا کن خبره داده چه اول خود دغسی مقالو لیکونکی د گوتو په شمېردی، زمونږ پخوانی ستر لیکوال په نورو لانجو او کارونو اخته شول، لیکوالی ترې دچو کی لاندې پاتی شوه اودوی دچو کی او چتی څو کی ته وختل. چانه نور مشغولیتونه پیدا شول دچاز دونه ساده شول، غرض داچه قسم قسم اپتوله راغلل اودپخواولو پو لیکوالو قلم ئې مات یا پخ کړ. یوه زمانه کی د کابل مجلی سره دغسی لیکوالو ملگری کوله نو کله کله به پکښی علمی اولوړادبی مضامین هم نشر پدل په بله دوره کښی فرض لادومره خړه پړه او گردجنه شوی نه وه نو یو نیم تنقیدی مضمون به پکښی هم تېرېده اوس خودغسی قصه ده چه چرگ خلك په اذان کی کشی کوی اوتغ ترې و کازی . سره ددې تولو خبرو یوه مجله او په تېره د کابل مجله خودیوسړی مال نه دی اونه ئې یو لیا دوه تنه چلو لی شی .

چامونږ نه مضمون رالیږلی دی چه مونږ نشر کړی نه دی؟ چا مونږ نه د کومك لاس را کړی دی چه مونږ په مینه استقبال کړی نه دی؟ پښتانه وایی (له چانه گیله له ځانه گیله) هرسړی باید له ځانه گیله و کړی چه ولی دیوې پښتو مجلی سره کومك نه کوی ؟ که ددې موضوع له دی اړخ نه تېر شونو نوراړ خونه هم لری چه هر اړخ ئی دمنصفو خلکو قناعت حاصلولی شی مونږ منوچه په اول کې د کابل مجلی علمی او تاریخی لوړ مضا مین نشرول لا کن څومره چه لیکونکی ئې لږوو هغسی ئی لوستونکی هم د گوتو په شمیروو په هغه وخت کی د کابل مجلی شل تنه مشتر کین نه لرل .

اساسی خبره داده چه په هر وخت کی باید دمحیط متوسط ذوق دنظر لاندی ونیوی شی اوهغسی قدم واخیستی شی . پخوابه ما په خپله د کابل په مجله کښی گرامری او د ژبی

دلغوی څېړنی مقالی ډېری لیکلی ، ځکه په دې لیار کی می ډېر عمر پوره کار کړی ؤ آخر را باندی ملګرود اشتقاقونو نوم کېښود . یوه ورځ یوغټ ملګری راته وویل چه ستا ددې اشتقاقونو څخه قوم او پښتانه فایده نشی اخیستی ، باید ساده آسان او دقوم دوینبو لو مضامین ولیکی - که څه هم هغه وخت ماورسره مخالفت وکړ او ورته می وویل . چه دا ټولی څانګی په یووخت کی یوشان وړاندې بیول پکاردی کارو نه باید تقسیم وی یو سړی به یوه څانګه نیسی بل به بله اوس هم زه په دغه نظریه یم ، مګر دا خو امکان نه لری چه یواځې زه دې دغه ټولی نیمګړی خواوی پوره کړم دا دټولو پښتنو لیکوالو کاردی چه کومه خواورته کمزوری ښکاره شی په هغه برخه کی څه ولیکی او دنشر دپاره ئی را واستوی ددې بحث بل اړخ دادی چه په پښتو کی بی د کابل مجلی نه بله مجله شته نه دی ؟ په فارسی کی نن دهر شق دپاره ځانله ځانله مجلې چاپیږی داقتصاد یا تو دپارهٔ ځانله مجله ده دسیاسیاتو او حقوقو دپاره جلا مجله چاپیږی دتاریخ دپاره بیله مجله خپریږی دعلم او معارف دپاره ځانله مجله لری دغسی څو اخبارونه په فارسی چاپیږی چه په دې صورت کښی دفارسی هره مجله کوشش کوی چه دخپل مسلك سره سم په خپل چوکاټ کی دننه ښه ښه مضامین پیدا کړی لاکن د کابل مجلی قصه دد غو ټولو څخه جلا ده ،

د کابل مجله باید هر ډول او هر قسم مضمون نشر کړی او هر هر څه ولری ځکه چه دپښتنو دپو هولو دپاره بی له دی نه بله ذریعه نشته ، سر بېره پردې باید د کابل په مجله کښی دمتوسطو بلکه ابتدائی لیکوالو مضامین هم نشر شی ځکه چه دلیکوالو دتربیه کولو وظیفه هم ددې مجلی په غاړه ده ،

دپښتو لیکونکی هم تقریباً په درې طبقو ویشل کیږی اولوستونکی هم -

د کابل مجله ددغو دری واړو طبقو سره سرو کارلری ، دانتهائی متوسط و ابتدائی درېواړو لیکوالو مضامین به نشروی او په لوستونکو به هم د درې طبقو یعنی انتهائی متوسط او ابتدائی کسانو خیال ساتی

اوس نو تاسی په خپله فکرو کړی ، چه ددغسی درنی او مخلوطی وظیفی په مقابل کښی به د کابل مجله څه کوی ؟ یوه مجله او ټول پښتانه !

یو مجله او دپښتنو دومره ضروریات ! دا به څنګه سره سرته رسیږی ؟ واقعی ګرانه ده

هروخت چه په پښتو کی څونوری مجلې هم پیدا شوې نو هغه وخت بیا د اخبری تو لی حل کیږی ،

که اوس مونږ دځینو کسا نو نظریه ومنو او دابتدا ئی لیکوالو مضمون نشر نکړ و یادوی تربیه نکړو نو په پښتو کښی به لیکوال څنګه زیات شی او په څه صورت به وروز ل شی داسوال خو هم جواب غوا ړی –

البته که نورو فارسی مجلو په پښتو کی پوره بر خه اخیستلی نو بیا دامشکل څه نه څه حل کیده لا کن هغوی ا کثراً دمشهور او اوله درجه لیکوا لو مضمون غواړی او دائې یوه بهانه نیولی ده له ډیروخت نه دبر ګ سبز دمجلی سره زه په دی جګړه اخته یم چه تاسی پښتو برخه نه لری دوی په دې خبره کلك ووچه که په خپله نه مضمون ولیکی نشر وو که نه وی دهرچا مضمون نشو نشر ولی آخره زه مجبورشوم او یومضمون می ورته لیکه – په داسی حال کی نود کابل مجله څه و کړی؟ دابتدائی لیکوالو مضامین نشر نکړی ؟ ددوی حو صله زیاته نکړی ؟!

تاسی ووایاست څه و کړی ؟!

سره ددې تولو خبرو بیاهم مونږ حاضر یو چه دخپلو لوستو نکو تنقید ونه او اعتر اضونه ومنو خو په دې شر ط چه عملی لارهم ورسره وښیيء مهربانی و کړيء دپرو پا ګنډ ونو او یوځای بل ځای دخبرو په عوض مونږ ته خپلی نظریې لیکلی راولیږی دابه د اصلاح دپاره ښه لاروی !!

(ر شتین)

افغانستان او پښتو

ادب څنګه ترقی کوی ـ !

ددی سوال د جواب د پاره باید مونږ دنن ورځی مترقی دنیا کوتونه ولټوو، اوو ګورو چه ادب څنګه ترقی کړی ؛ نو وینو چه :ـ

د ترکی ادب د ترقی د پاره د ترکی جمهوری د صدر « کمال اتاتورك » جدیانه کوښښات ؛ د ایرانی ادب اودفارسی دنوی نهضت د پاره د اعلیحضرت رضاشاه پهلوی حسن استقبال اوعامه رواداری ؛ د اردو دعروج او ارتقاء د پاره د اعلیحضرت نظام د خزانو پرته والی؛ اودعربی دنوی تطور دپاره د مصر دحکومت اهتمام اود جامع ازهراودنورو علمی وادبی موسسو ښه چلند ـ او دسوریی او بیروت توجه اسباب ګرزیدلی دی .

په دی هریو مملکت کښې د تالیف او ترجمی د پاره باقعده انجمنونه شته . په یورپ یا امریکه کښې چه هریونوی کتاب تصنیف کیږی، دستی په ترکیه ، مصر ، ایران اوهندوستان کښې یه خپلو وطنی ژبو ترجمه کیږی .

د ترکیی د ژبی د جرګی او دا رنګه دایران دلسانی جرګی، او د تالیف او ترجمی د قدر او اعزاز ؛ اوعبداسی د انجمن ترقی اردو او دمصنفینو او ادباؤ د قدرهنګامه او د جامعه ملیه اسلامیه دهلی ؛ او د دارالمصنفین اعظم ګرهه نومونه او انګازی به هغو غوږونه وی او ر پدلی چه کانه وی !

همدغسی یووخت مایه یوهندی رساله کښې ولوستله چه خو کاله دمخه د فرانس یو مشهور فاقد د ایطالیا په ادبیاتو تنقید وکړه وئې ویل «ایطالیا په افسانه لیکلو کښې کمزوری لری » دا خبرو داخبارانو په خوله د ایطالیا صدراعظم «مسولینی» غوږونه ورسیده؛ ده دستی دوطن تول ادیبان را غونډ کړه ، او یوه لویه جرګه ئې جوړه کړه، خپله صدراعظم یکښې نطق وکړو د تولو ادباؤیی دی خواته پام کړو، اودومبی افسانه ئې په خپل قلم ولیکله .

دغه شان په جاپان کښې همیشه د شعر مسابقی کیږی؛ د شعر په یوه مسابقه کښې (۲٦۰۰۰) نفروشاعرانو شرکت دراود؛ هلته د شعری مسابقی موضوع یو راز جاپانی مسری وی چه (تانکا) یی بولی . دامسابقه څه نوی نده، بلکه دمیلاد په (٦۹۰) کال کښې یعنی دولس سوه شپږ څلو پښت کاله دومبی دامسابقه په جاپان کښې کیدله .

نن ورځ هم په جاپان کښې تانکاته هماغه پخوانی اهمیت ورکول کیږی. دشاعری د مسابقی موضوع هم پخپله د جاپان پادشاه تعینوی. پخپله دجاپان میکادو هم ښه شاعردی. دملی ترانی پر ځای خپله د میکادو تانکا غږول کیږی . دده دیوی تانکا ترجمه داده :ـ

« زه هغه سپین ږیری یم ، چه د مملکت دساتنی دپاره ځای پرځای پاتی یم، ځکه چه زامن می په خوشحالی سره د جنګ باغ ته تللی دی لکه چه یو جشن ته تللی وی . »

د هغه ځای د یو عسکر دتانکا ترجمه داده :ـ

دا ځما څه پروا ده که دواوری په شان ویلی اونشتم؛ زه به نشتیم مګر جاپان به لوی شی او هرګز به نیست ونابود نه شی . »

(پاتی په ٦ مخ کښې)

ولور

ښاغلی ، ننګرهاری

پښتو او پښتونواله د پښتنو یو خورا ډېر صحیح قانون او مکمل پروګرام دی . په دې قانون پښتنو زرګونه کلونه د صحیح عمل په برکت صحیح او آبرومند ژوند کړی او دا هماغه قانون دی چه پښتانه ئې په مړانه ، شجاعت ، درانده خوی او ډېر اصیلتوب مشهور کړی او د هر جنګ په میدان کې ئې بریالی کړی دی . د پښتنو پخوانی عادات ، آداب ، اخلاق او د ژوندانه طرزالعمل ډېر منصفانه او رحیمانه دی ، په هغو کې ظلم ، جبر ، بې رحمی او د انسانی فطرت سره منافی دودونه بالکل نه وو او سراسر د بشری تقاضا په اصولو برابر وو . له کومې زمانې نه چه د دهر میرې مور د پښتنو خاورې ته متجاوزین متوجه کړل او د مصائبو باران ئې پرې وکړ ، د پښتنو د پریشانۍ او پراګندګی سره سم د هغوی فطرت هم د پایمالۍ سره مواجه شو او د پخوانو صحیحو اخلاقو احساس او شعور ورو ورو مخ په کښېدو شو .

څرنګه چه پښتانه د جنګونو جګړو او د یونان ماوراءالنهر او چین آفتونو په غیر مستقیم او فوق الشعور صورت باندې د غرو څوکو او د درو پېچ وخم ته ننویستل ، د بلخ ، هېرمند ، او زابلستان انسانیت مآب مدنیتونه او د مینې محبت خوږ ژوندون او د مشترکو منافعو د حمائې خیال هم خپل ځای د بدویت ، وحشت او ځانځانۍ بلاته خالی کړ چه په دې ترتیب د پښتانه د برم ، عزت . سردارۍ او بادارۍ د کارنامونه ډک دفتر د خوارۍ فقر ، فلاکت او ګمنامۍ صرصر پاڼې پاڼې او ترغۍ په تالا » کړو .

هر ډول ناکاره ، مضر او انسانیت سوزه دودونه ورته راننوتل او پښتانه ئې پخپل منځکې یو د بل په غوښو لګیا کړل .

د دې بدو او ناکاره دودونونه یو « ولور » دی ، دا دود په دومره اندازه مضر او فلاکت بار دی چه کورنۍ کورنۍ پښتانه ئې ورک او په دې ربړ کې د قرنونو راهیسی ګرفتار پښتانه تر اوسه لانه دی خلاص .

ولور یعنی څه ؟ ، د خپلې خوږې او د زړه کتري لور په سر یو څو مردارې او ناولې روپۍ اخستل او هغه د خپل میل ، خوښې رضا او رغبت نه پرته د یو حیوان غوندې خرڅول دی ؛

(د ٥ مخ پاته)

نو ، چه پورته حقائق د نظر لاندی ونیسو او د خپل خوږ وطن د څوکالو ترقیاتو په خوا سترګی واړ وو ؛ د اعلیحضرت نادرشاه (رح) د ادب پالنی ء او په آخر کښې د المتوکل علی الله اعلیحضرت محمدظاهر شاه شاهانه فرمان او د ملت منلوته وګورو - نو د پورته پوښتنی په جواب کښې دا تکی کورټ یقینی بریښی چه :- «علم او ادب تل د بادشاهانو د محبت په غېږ کښې ترقی کوی»

نن افغانستان ډېر نیکبخت دی ، چه د یو بیدار او ملی حکومت تر سیوری لاندی خپل ټول ملیات ژوندی کوی ؛ او خپل یو مشعشع ، مضبوط ، پرامن ، او پایدار ملی ژوند به نزدی مستقبل کښې د یقین په سترګو وینی .

ژوندی او کامیاب دی وی اعلیحضرت محمدظاهر شاه مترقی او بریالی دی وی افغانستان !

«خادم»

یو لئیم . بدخویه ، تریو تریخ اود خزان عمر سپین ږیری چه دخو پېغلو پښتنو ژوند ئې ترخپله سره تېر کړی وی ، دیوې کچه اونوې غو ډېدلې غوټۍ خواست به دیوڅو زرو روپو په خپله ددغې تنګی مخلوق دناپوه پلارنه وکړی اویوڅو سپینې روپۍ به پرې جرګه کړی ، پلار به دخپلې ګېډې مړښت په دغه ناولو پیسو سود کړی اوخپله مظلومه اوبې واکه لوربه لاس او پښې تړلی ددغی خپسۍ په اختیار کې ور کړی .

بالعکس یو خاندانی سړی به دخپل ماشوم او « تی خور » ځوی دپاره دیوه خپل انډول سړی په کور دیوې پخې پېغلې په سر جرګه وکړی او بس دروپو په زور اودخاندان دخولۍ په نوم به ددغی ګل غوټۍ معصوم حیات دبلا په خولې کې ور کړی اود عمر دپسرلی په اوا یلو کې به ئې دخزان دبادونو اودمنی دتبوسره حواله کړی ، طبیعی ده په دې دواړو صورتونو کې دزړونو کوشېرنه راځی ځکه په لومړی صورت کې خپلو پیسوته غره بوډا دخپل ملوث هوس دپاره دیوې معصومې اونازنینی پېغلې ژوند دهغې دهرقسم رضا اورغبت نه پرته بازیچه کول غواړی اوپه دوهم صورت کې دخاندان روایاتو لاهو کړی بابا دخپل واړه بچی دنااعتباره رشد اوځلمیتوب پورې دخپل خدمت کولو اودځان داستراحت دپاره دیوې آغلی پېغلې نه دنا انجامه اومضطرب انتظار امید کوی چه دادواړه فقرې ددوو زړو مغزو یونا مشروع اوناکام تخمین دی ، دژوند سلسله دجنګونو جګړو ، کنځلو اوبدګوز رانۍ سره پوځای کېږی ، بدبخت پلار دخپل فطری اوبی اختیاره محبت په وجه مجبوردی چه دخپله لاسه وژلې لوراو خزان کړې غوټۍ پوښتنه وکړی اوپه نتیجه کې ددې مداخلې سره اخ وډب اوبالاخره قتل اومقاتلې ته وځی اولومړی په کې همدغه ناعاقبت اندیش او ظالم پلار په خپل تندی باندې دټوپک ګولۍ زغمې .

یواهل اولایق ځلمی له به په یوصورت کې لور ، خور ور کړی اوپه دې وجه چه هغه بیوزلی ناداره او مسکین وی اودلور دپلار حرص اوبېځایه آرزو دده نه روپۍ او دود دستور غواړی ، ځلمی په خپل کاله اوپېغله دپلار کره دجګر خونۍ اوزغم شپې ورځې سبا کوی او کلونه کلونه مبهم اومجهول انتظار وکاږی . هغه جینۍ چه په پیسو واده شی اودهلك دخاندان زړونه ئې په خپلو نامعقولو مطالبو ستړی کړی وی دهغې بېچارګۍ سره دیوې پردیسې وضعه اوپه کاله کی دهرقسم حقوقونه محروم په څېر ګڼل کېږی او دیوبې تنخواه مزدور غوندې اوسېږی ،

دیو آبرومند سړی جایداد اوشته به په ولور باندې والو زوی ، دیور وړو دمنت دلاسه یوخوا او دکور دفقراو افلاس په غم کې بل خوا ناکلاره اومشوش تنګ اومجبور وی چه ددې بېچاره داړتیا او مجبوریت سره سمه بیوزلې اومظلومه پېغله هم دخپل پلار دبدې روئی په وجه کوز ګوری او په روحی فشار کې مبتلا وی .

دهمدغه ولور په وجه ډېرې پېغلې کلونه کلونه بې مېړه اوزلمی قهرا « لونډۍ » او جره توب عمر تېر وې . په دې ترتیب دپښتنو په ژوند کې ولوردیوې ډېرې لوئې اجتماعی ګناه موجب اودژوند دشپو ورځو دتریخوالی سبب کېږی .

همدا ولور دپښتنو په ژوند کې دازدواج دتعطیل په سبب دنفوسو دقلت نه سوا دبدګوز رانۍ په وجه د قتل قتال اوزرګونو فسادو نو مورده چه ژر ژر د پښتنو درا نده او غټ غټ خاندا نونه ور کولی او بربادولی شی .

د ښاغلی «سیفی» ترجمه،
له خارجی آثارو څخه

عبدالصمد خان

د بلوچستان دا جګ او د مضبوط او قوی جسم خاوند چه آسمانی رنګی کالی اغوندی د بادشاه خان غوندی دیو لوی حزب مشر او د پوره تنظیم خاوند دی چه دبلوچستان په خلکو کښې دبلوچ ګاندهی په نامه شهرت لری، دده سیاسی ژوندهم لکه د پادشاه خان غوندې دډېرو مصیبتونو او راز راز پریشانیو له داستانونو څخه ډک دی، او دخدائی خدمت ګارانو دحزب په شان عبدالصمد خان هم دیو دغه راز حزب محرك اولیډر دی. ددې حزب مقصداومرام هم دپښتنو اصلاحات اودسعات او نیکمرغۍ په سمه لار روا نول وو، اوپه دی لړ کښی ئې د هندوستان دآزادۍ تکمیل هم په نظر کښې ؤ. ده به تل دانګریزانو دحکومت په دوره کښې دانصاف اوصداقت دپاره دانګریزانو سره مقابلې کولې او ددې مرام دتر سره کولو دپاره به ئې تل دانګریزانو ګریوان ته لاسونه اچول، ددی ډول تصادمونو په نتیجه کښې دانګریزی حکومت له خوا عبدالصمدخان او نورو بلوچی لیډرانو ته ډېر ډېر تکلیفونه ورسیدل اوپه دی لار کښې دوی دډېرو مشکلاتو اوسختیو سره مخامخ شول عبدالصمد خان یواځی یو تجربه کار مشر اولیډر نه دی بلکه دی یو ننګیالی اوسرتیره سپاهی هم دی چه تل دآزادۍ په جنګ کښې د یو سپاهی په څیر په میدانونو کښې جنګېدلی دی، دی یو ډېر جګ اولائق نطاق اوپه سیاست کی یو ډېر پوه شخص دی، مالمړی واردی په هغه وخت کښې ولید چه دی پېښور ته په پولټیکل کنفرانس کښې دګډون دپاره راغلی ؤ او په دغه کنفرانس کښې ئې دپاکستان سره ډېر سخت مخالفت کړی ؤ.

دغه نوموړی خان مادو هم وار په ډیلی کښې دخدائی خدمتګارانو سره په یوه جلسه کښې لېدلی ؤ، په دغه جلسه کښی په مختلفو او راز راز مسایلو بحثونه وشو اود بحثونو اوخبرو اترو په لړ کښې داخبره هم یاده شوه چه آیا دسرحد خلک به بیرته خپلی صوبی ته ځی؟

نوخان عبدالصمدخان په ډیر افتخار په ځواب کښې وویل چه ولی به نه ځی؟ او که خدای کول یوه ورځ به داسې هم راشی چه د سرحد او بلوچستان خلک به بیرته خپلو کورونو ته ځی ـ او هر کله چه له ده څخه د پښتونستان د تحریک په شا او خوا کښې پوښتنه وشوه نو ده په ځواب کښې وویل چه کومو پښتنو چه د انګریز د غلامۍ نه ځانونه خلاص کړی دی هغوی به ارو مرو دلیکی غلامۍ نه هم ځانونه خلاص کړی ، او همدغه الفاظ عبدالصمدخان د پاکستان د تاسیس او جوړیدلو په وخت کښې ویلی ؤ دی له ابتدا څخه د پاکستان مخالف ؤ لا کن د پاکستان د جوړیدلو نه وروسته ده هم د پادشاه خان په شان تعمیری فعالیتونه شروع کړی وو او هر کله چه لیکی سر کارته دده په دغو فعالیتونو کښې د تخریب نخښې او علامې ښکاره شوې نو د سرحد لیکی وزیر مسترقیوم په ښکاره ډول په دې چیغو ګوتې پورې کړې چه عبدالصمدخان هم د پاکستان د ښمن دی ، د پښتونستان د تحریک ملګرتیا کوی او دی باغی دی او د بلوچستان په خلکو کښې د بغاوت روح خپروی . لکه چه ددی بهتا نونو په نتیجه کښې لیکی سر کار .... دی هم نظربند کړاودی هم د پادشاه خان غوندې نن د بندې خانې په تورو اوتیرو خو نو کښې پروت دی.

د کاندهی په شان خان عبدالصمدخان هم د کار کولو او فعالیت ډېرطاقت درلود. دی د پخې ارادې او داسې تینګ عزم خاوند دی چه د نړۍ هیڅ کوم یو طاقت د ده په عزم او اراده کښې تغیر نشی راوستلی او نه دده احساسات د رعب لاندی را وستلای شی که څه هم دی نن په بندی خانه کښې پروت دی لیکن دده ننګیالی اود خپلو سرو نونه تیر سپاهیان نن هم د خپل نصب العین او مرام په لور په ډېره میړانه او بیړه مخ په وړاندې روان دی، او که خدای کول ډېره زر یوه داسې ورځ را تلونکی ده چه د بلوچستان ننګیالی او زوړور سپاهیان د خپل لار ښو ونکی په قیادت کښې خپل مرام او نصب العین ته ورسیږی . (ژوندی دی وی خان عبد الصمد خان) .

ښاغلی حفیظ الله منیر د موزې د ریاست عضو

په افغانستان کښې د آرکیالوجی

تحقیقات

د تېر شوی کلونو د حفریاتو په سلسله چه د افغانستان په ټولو باستانی نقطو کښې عملی شوی دی د ارغنداب او هیرمند په سفلی حوزه یعنی (ارا کوزیا ، سیستان او لشکر گاه) کښې هم په دې وروستنیو وختو کې حفریات او کشفیات شوی دی ،

دهغو نقطو حفریاتی او تحقیقاتی نتیجی موږ وادار کړو چه د اختصار په ډول د مکشوفه آثارو او دهغو ځایونو په باب کښې خپلو - قارئینو ته معلومات ورکړو بالخصوص دوه لمړنی ذکر شوی ځایونه چه دهغو تحقیق د قبل التاریخ په مطالعاتو کښې ډېر اهمیت لری او د قدیم تهذیب او مدنیت کانون گڼل شوی دی .

دادی دهغو ځایونو په توضیح شروع کوو :-

الف - آرا کوزیا ، د ۱۳۲۹ او ۱۲۳۰ کالو په بیلو بیلو مختلفو نقاطو کښې (د بدوان د غره مغاره ، د ده مراسی غونډی ، د بارانی غونډی او خاکریز .) د خارجی او داخلی هیئتونه خوا مفصل تحقیقات وشول په پای کښې ثابت شو چه آرا کوزیا (قندهار) د قبل التاریخ له نقطهٔ نظره څخه د ټولو نقاطو سره تهذیبی ارتباط لری او د قدیمه مدنیتو پول منبع ده ،

د قندهار او بلوچستان یا د افغانستان د غرو او سند په منځ کښې ښه ارتباط ټینگ ؤ چه د یو بل معاصره وی ،

دا مسئله د آرا کوزیا د څو تحقیقاتی ځایو د آثارو له مخه تثبیتیږی چه مونږ ئې په لاندې کرښو کښې خر گند وؤ .

۱ - د بدوان د غره مغاره : دا مغاره د تاریخی مغارو په ډله کښې محسوب شوې او د (بدوان) په غره کښې تخمیناً د (۳۰) فوتو په ارتفاع واقع ده . د مغارې ننني لمړۍ برخه (۱۸) متر طول او (۱۳) متر عرض او د شرق خوا ئې د (۱٦) مترو په عمق ژوروالی لری .

د شمال مشرق په گوشه کی ئې د (۱۱) مترو په طول یو تونل چه یو سړی له هغه نه تېرېدلای شی لیدل کیږی .

د تونل د تېرېدونه پس بولوی څلور خولی چه قطر ئې (۲۰ متر په ۲۰ متر) دی د غټو او متعدد و ډبرو سره لیدل کیږی .

د څلور خولی نه یوه څانگه د جنوب په لورې جلا شوې ده . عرض ئې (۸ متره ، طول ئې ۵۰-۵۵) متره او سطح ئې مائلاً او ږدیږی .

د څلور خولی په مشرقی برخه کښې د (۱،۵۰) متر په ارتفاع یو تونل شمالاً جنوباً امتداد لری چه بې له کومی وسیلې څخه ورته ختل گران دی طول ئې له پنځوس متره زیات او شمالی پای ئې لکه غیر منظم زوزنقه چه چاپېره ئې په مدورو ډبرو محاطه دی جوړ شوی دی . همدارنگه په مشرقی په کونج کښې ئې یوه لویه ډبره لکه دونې بېخ په نظر مجسم کیږی چه دا ډبره له یوی خوا په سقف او له بلی خوا د تونل په سطح کښې مربوطه شوې او مخ ئې د سندری اشکالو له رسمونو نه ډک ښکاریږی . او د دې د پاره چه د باندنی حادثاتو نه محفوظ دی رنگ ئې له منځه نه دی وتلې ، د ډبری په پای کښې یوه کوچنی برخه د کاسې په ډول ژوره شوې ده .

له تحقیقاتو څخه داسې معلومېږي چه دا مقام دهغو زمانو دمسکونینو دلوی کشیش ځای اودعبادت محل ؤ، اوهغه د کاسي غونډې ځای دخوراکې دایښودلو دپاره چه دمراجعینو له خوا دمعبد د احترام دپاره راوړل کېده معین شوی ؤ.

دامقصد دغره له نومه څخه هم تر یوې اندازې پورې مفهومېږي یه دې معنی چه د بدوان دغره نوم دمغارې له سببه تعین شوی او بت وان په مرور سره بدوان گرزېدلی دی چه مقصد له بت ساتونکی څخه (کشیش) دی.

بل ټول تخمیناً د(۶۰) مترو په طول د هغې موصوفې ډېرې په ښۍ خوا کښې لیدل کېږي چه له هغه نه یوه لنډه قطره څانگه چه ننوتل بکښې ناممکن دی بېرته دمغرب خواته را گرزېدلی ده،

یه دې ځای کښې هوا نیه تیاره اوډېره خرابه وی چه مغاره پای ته رسېږي دمغارې په لمړۍ او دوهمه برخه کښې د(۱۸) مترو په طول $\frac{1}{2}$ ۱ فوټ په عرض او(۱۸) فوټو په عمق بومرتبه داره سپنداج حفر شو چه خاوره ئې تر (۷) فوټو پورې پسته او وره طبقه ئې کلکه اودشن کلسیوم، مد، څخه تشکیل شوی ده اود مشین په واسطه ژور او مختلفه آثار لکه گرد شکل لرونکې هډوکې. تبروته، مهرې او دفلز ټوټې سره له برجسته دیزین کاریو ... هر یو له معین عمق څخه ظاهر شوی دی چه ټول شیان دافغانستان دقبل التاریخ دتمدن دانتشار اوانکشاف نماینده گڼل شوی او په قدیمه دنیا کښې ئې مهم رول لوبولی دی.

ځینی (اسلامیك) شیان هم له لمړۍ سطحې طبقې څخه کشف شوی دی چه په دې ورستنیو زمانو پورې مربوط دی.

خلاصه ذکر شوې مغاره دشمشیر غار په نامه مسما اودقبل التاریخ له غارو څخه یوه مغاره ده.

۲ - دده مراسۍ اودبارانی غونډۍ :-

دادواړه غونډۍ دقندهار په جنوب مغرب اود(مارغره) دشمال په خوا کښې د(ارغنداب) او (ترنگ) دوادیو په منځ د(ماشور) دقریې په ماحول کښې ښکاره شوې دی چه دافغانستان دلمړنیو (پری هستوریکو) مکشوفه ؤ غونډیو اودقبل التاریخ داماکند په حیث محسوب اود آریانا په تاریخ کښې دافتخار وړ ځای لری.

ددې غونډیو له حفریاتونه مدوری ډېرې، کوچنۍ مجسمې او نور شیان لاس ته راغلی دی.

ذکر شوې مجسمې مختلفې اود مرغ، هگۍ او دنیم تنه ښځې په شکل دی دانیم تنه مجسمه دمور درب النوع حیثیت لری، چه مثال ئې داندوس په وادی کښې هم لیدل شوی دی.

دا مجسمې نه یوازې دقندهار تهذیبی مربوطیت دقبل التاریخ په ادوارو کښې دټولو مناطقو سره ثابتوی بلکه ټول مکشوفه آثار داشهادت تائید وی.

دمحققینو له نظریو سره سم د(ده مراسۍ) تهذیب د(زوب) ددرې حتی د(لورالی) دمدنیت سره چه د اندوس ددرې په غاړه کښې واقع دی شباهت لری.

۳ - خاکریز: دخاکریز مکشوفه آثار تر اوسه پورې تر تحقیق لاندې نه دی راغلی اوحفریات ئې جاری دی؛ لیکن دغونه ویلای شو چه آثار ئې په پورتنۍ ذکر شوی عصر پورې مربوط دی.

ب - سیستان :-

سیستان دلویو تاریخی مراکزو له جملو څخه دی چه پس له نجدی نه په تاریخ کښې دوهمه درجه دی فراه، چخانسور، پشاوران یاشهرستان، سلیان، نادعلی، خوابگاه، ترسار، قلعهٔ فتح، قلعهٔ میر، چاربرجك، دښت زیرو، قلعهٔ خران، رودبیابان او گردن ریگ دبندر کمال اود(ملك سیاه کوه) ترغره پورې اونور چه ځینی پرڅه دایران دخاورې پورې او څه دافغانستان دخاورې پورې تعلق لری دسیستان په نوم یادېږي اودا کلمه له میلادنه(۲) زره کاله دمخه له (ساکستانا) څخه اخیستل شوې ده. چه بخوانی نوم ئې وو.

مونږ په اکثرو نقاطو کښې تحقیقات کړی دی، که څه هم د سیستان مځکه ډېره سولیدلې ده چه تحقیقات به دې ځای کښې آسان کار نه دی اما سره له دې تحقیقاتو ئې مثبتې نتیجې را کړی دی او د تذکرو ړ دی؛

په ۱۹۵۰ او ۱۹۵۱ ع کلو کښې د سیستان په جنوبی برخو کښې خارق العاده شواهد د قبل التاریخی د تهذیب له مراتبونه خصوصاً درود بیابان په جنوبی خاورو کښې چه د هلمند وچه شوی مجراده مشاهده شوی ده. چه دا شواهد او بقایا د افغانستان په دې گوشه کښې ډېر اهمیت لری. لکه چه معلومه شوه د سیستان تهذیبی مراتب د جنوبی او مرکزی ایران د مدنیت سره مستقیم او د قندهار او اندوس د درې سره غیر مستقیم ارتباط لری.

درود بیابان په مربوط علاقه کښې علاوه پر رخام، ډېرې، ټکری، فلز ... پوقبرستان هم کشف شو چه د مړیو اسکلیتونه ځینې نیمگړی او ځینې مکمل پکښې معلومیده.

دا مړی شرقاً او غرباً دفن شوی وو چه پښې ئې د مشرق په خوا او سرونه ئې د مغرب په خواوو، د دې مړو په کینو خواؤ کښې دوه دوه گلی ظرفونه مدفون شوی ؤ له دېنه معلومیږی چه دوی عقیده درلوده چه میت پس له مرگه ژوندی او غذا او اوبو ته اړوی نو له دې کبله ظروف د امواتو سره ښخ شوی دی. د علمی تحقیقاتو له مخه چه پوهانو کړی دی د دغو امواتو د اسکلیت او جمجمې له مخه داسې ځرگندیږی چه سرونه ئې لکه د بیضی طویل، او متوسط قامت ئې درلود او بدنی ممیزات ئې لکه د مدیترانې د ټیپ وی د دې تیپ انسانانو مړی په ټول قدیمی شرق کښې سره د منقشو گلی ظرفونو یو ځای لیدل شوی دی.

دلته ځینې نورې غونډۍ هم شته چه پورتنۍ خوائې د اوسپنی له تورو ډېرونه ډکه ده او یوه عجیبه منظره تشکیلوی. علاوه په دغه کشفیاتو پخوا هم د نادعلی د (سرخ داغ) په غونډۍ کښې د ۱۹۳۶ کال په پسرلی کښې د موسیو گرشمن له خوا حفریات شوی وو چه فقط (۱۱) متره د غونډۍ و له برخه ئې حفر کړه او د میلاد نه د یو زر کاله د مخه شواهد ئې لاس ته راوړل چه د ده په نظر په د نادعلی د ظروفو او د ایران د لمړی لمبر سیالک په منځ کښې همدا رنگه د جنوبی روسیې د مختلفو ظروفو په منځ کښې ډېر شباهتونه موجود دی او په ډېر احتمال سره - نادعلی د (زرنکا) او یا د زرنج له بقایاؤ څخه دی چه په اوستا کښې ذکر شوی دی او یو وخت د ټول سیستان پایتخت ؤ، او په جرئت سره فرض کولای شو چه د نادعلی په تحتانی طبقاتو کښې امکان لری چه د میلاد د مخه د ۳، ٤ زره کالو ظرفونه پیدا شی.

ج - لشکری بازار یا لشکر گاه :-

لشکر گاه د سلطان محمود او سلطان مسعود غزنوی د عصر د ودانیو له بقایا څخه نمایندگی کوی چه د هلمند په غربی ساحل کښې واقع او د متوالی اعصارو په مرور د باندینی حوادثو په صدمه سره ویران شوی او ټول سقفونه او ځینې د یوالونه ئې د خاوری یوه توده گرزیدلی ده. په دې ځای کښې د ۱۳۲۷ کال نه رایدې خواتر او سه پورې حفریات او کشفیات کیږی چه د حفریاتو پنځمه دوره ده، د شاهی ارگ د عسکری قشلې او یو اوږد بازار د حفریاتو مرکز تعین شوی او د سقفونو خاورې ئې د اطاقونو مخې ته د ٤،٥ مترو په ارتفاع پرتې دی.

له دې مراکزونه ډېر گلی ظرفونه، پیسې، د یزین لرونکی کوفی لوحې، مجراب او مسجد، تشنابونه او حوض، پخی مربه خښتې، فلز، شکل لرونکې لرگی ....، پیدا شوی دی چه ټول د لیدلو وړ او د غزنویانو د نقاشۍ او نورو صنایعو یوه نمونه ده:

په دې مواضعو کښې تحقیقات نه دی ختم شوی ښائی چه په دې څومیاشتو کښې خاتمه و مومی.

داود آر کیالوجی تحقیقات چه بیان شو.

اوس دغو نه معلومات گرانو قارئینو ته کافی بولم البته پس له انجام ئې ممکنه ده چه د هغو په باره کښې مفصل علمی معلومات ولیکو.



ښاغلی امیر حمزهٔ شنواری

لیونی خوبونه

چه دی زلفو ته نظر کړم لیونی خوبونه وینم
چه دې و وینمه سترګې خندنی خوبونه وینم
شوګیری کړې غزوونی ستا دسترګو شبستان کښې
او ښکې راشی بیا فناشی لکه ستوری په اسمان کښې
غریودی لوبې کړی په شونډو ستا بې خوده ځوانی رپی
سلګۍ راشی ستا مرۍ ته یو بوګن شی په چشمان کښې
ستا مرکز دنظر نشته دځمبار کډې دې تلی
د لیمه تمبی دې بیرته میلمه نشته په مکان کښې
خیال دی بل جهان ته تلی خپله ته هغه جهان شوې
زار د دې بې خبرۍ نه ګلشنی خوبونه وینم
نسیم نرمه شانه را وړه سینګار بیزه چه سحر دی
خوب په نیم پرانستو سترګو نیم دننه نیم بهر دی
غزؤنی اړخ بدل کړ ار مانونه را ویښیږی
پټ پټانی پلوشی کړی وارخطا دتا نظر دی
اور د حسن دې تازه شو اسویلی ترینه لوګی شو
یو پوکی دې شباب ور کړ ستا ګوګل دی که مجمر دی

ټوله ټاله اضطراب ئې جوړ نغمه د خپل شباب ئې
ارمانونه مې رقصان دی سپېلنی خوبونه وینم
ته چه لاس په سینه کښېږ دی زما فکر په خپل زړه شی
چه د زړه مې خولې ته راشی ستا د زړه نه لاس په خوله شی
شونډې کېکاږې په غاښو شی د زړه په زړه کښې پاتې
ضبط می ستر ګو وته راشی سره ګډوینه او به شی
داسې سم اوږده بانه مې د قسمت د کوتا هی نه
د کافرو تورو زلفو خوی او بوی واخلی کاږه شی
دی هغه خمارې ستر ګې خو کړی ژوند په مېږتون مې
په رم خوښې تصور دې غرڅنی خو بونه و ینم
د پرون په التفات دې، نن په څرنګ سود ز ما شی
د نن شپې زړه به روښا نه په پرون تلی رڼا شی
معشوقه بیا مروره شی چه کوم ساعت پخلا شی
شی اثبات ئی په خوله نفی نارضا ښکاری رضا شی
څه چه وایم ته هغه کړې هغه مکوه چه وایم
بو یه بیا دې په خوب وینم بې مقصده به سبا شی
د هجران په استانه کښې د بل کال په بستره کښې
زه حمزه د خیال په ستر ګو سګنی خوبونه و ینم

* * *

ښاغلی عبدالمنان درد مند

دحق اعلان

څه شور اوغوغا ده د دنیا په بازار ونو کې
پټې آرزو ګانې دی ښکاره په دفتر ونو کې
چغې د کمزورو په فضا کښی انعکاس کوی
ظلم استعمار کړه خلك وریت په انګارونو کې

نـوی مجهـز شـو لـو عسکر په اتومی وسله
دغه سیاست دی ښـکاره شوی په کـارونـو کې

دوه ډلی دنیا شوله دریمه کـښی غریب اوسـی
لوبـی آزادی کـوی د هرچا په فکـر ونو کې

ډك دوښنو زخـم مې ښودلـی عـدالت تـه دی
خپل شرعی حق مـې دی ښکاره په دفترونو کی

کوم پښتون ور کړی پر نـکی نه اجازه دویش
حق دلاس وهلو نلـری پـه اختیـارونـو کـی

سرې جامې اغوستې لاپخوا سر خپوشـا نـودی
سرې جندې ولاړې د خیبر په سنگـرونـو کې

غواړی که یونو چه سوله تینگه په دنیا کښی شی
ودې ایـکی زر پښتونستان په اقـرارونو کـې

ماتې جلیخانې دیا کستان کړی حق خواهانوزر
ظلم دچودریانو کـړیء رسوا په تقریرونو کې

ما دیمو کراسی غبز رسولـی ټول جهان ته دی
ما دحقـائقو صفت کـړ ی په شعرونـو کـې

ظلم أستبداد سـره همیش مـجـاد لـه کـوم
داچغـې ناري مې دی ښکاره په اخبارونو کې

سوله امنیت مې دی پیرزو په ټول جهان باندی
حق نه چه سلامونی خوشحالی وی په کورونو کې

توره مـې راخستې پـه تعصب او استعمار پسې
نه پرېږدم زیاتی فخر افغان په زنځیرونو کـې

جوړ به خپل عـزیز پښتونستان کړم اراده شوې
واك مې دیورندی نوم کړ په ټولو بندرونو کې

پرداته چودری دشریعت په محکمـه کښی دی
ځـکه رسوا شوی په اولس او په ښارونو کـې

سور کفن په سر دشهید گـی په میدان لوبې کـوم
تیری ما (دردمند) کړې ډېرې شپې په شوگیرونو کې

لرغونی ادب

زړه په هر لوری پریشان وی د حارص — بـده برخه پـه جهان وی دحارص

هم پخپله ملا تړلی پسې د رومی — که ئې چېرې څه گمان وی د حارص

همېشه ئې زړه کښې طمع وی له بله — که هر څو ددولت توان وی دحارص

لکه دوه سپی په مردار باندې جنگ کا — په نا چیز شی هسې شان وی دحارص

پخپل کور کښې سخت ویل هسې آغاز کا — که ئې چېرې څه مال زیان وی دحارص

که دصبر مسئلې څوك ورتـه وکا — هغه کس ډېر بد په لحان وی دحارص

دهېچا دمروت طمـع تـرې نشـی — نه په زړه کښې څه احسان وی دحارص

دهرچا ترفهمه بدشی سپك ئې گوری — که یاران او که دوستان وی دحارص

مطیع الله امان په خدای له حرصه غواړه
په قیامت کښې ډېر ارمان وی دحارص

څو چه ترك واړه لذت او اعزاز نه کا — محبوبه هو مړه له چا سره ساز نه کا

که عاشق ئې نازې مه وهه خو سوزه — پتنگ نه گورې چه سوزی آواز نه کا

خریدار چه ئې دحسن ودناز نه وی — دلبران په هغو هېچېرې ناز نه کا

عاشقان همېش په وېره دغماز وی — کومه زر که ده چه وېره له باز نه کا

تفاوت دپیاز منې سره څر گـند دی — عاقلان مینه په سبب کا په پیاز نه کا

چه دپټ راز کا خبرې و اغیارته — محبوبه بیا له هغو سره راز نه کا

دمجاز ـ دحقیقت لږ تفاوت دی — زاهدان دې ملامت په مجاز نه کا

مطیع الله هغه څوك تل په پښېمانی دی
چه ښه فکر دهر کار په آغاز نه کا

(مطیع الله برخیل)

دخیال دنیا ؟؟؟

ښاغلی «نقیب الله» نقیب

ډرامه که افسانه ؤ حقیقت ؤ که مجاز ؤ نه پوهیږم چه خوب ؤ که فطرت ځنی اواز ؤ
سعادت که بدبختی وه په دنیا کښی نوی ساز ؤ یا دمینی په جذبو کښی دلته پټ مرموزه راز ؤ

کائنات ئی په نڅا کړل خندو ونکی تماشاؤه
د ننځ ؤ په اواز کښی ، پټه شوی څه بلاوه

گل په مسکه خو له خندا کړه بلبل پورته ورته ناست ؤ
بورا زړه په ښاخ سوری که ځکه مینه کښی دی راست ؤ
د نرگس گونه وه زرده ځوړند سر بوټی کښی ملاست ؤ
د عاشق له محبوبانه دیوه ستر گک در خواست ؤ

در یدی قوله رقصان ؤ په هوا کښی گرځید له!
هرچا خپله محبوبا به د محبت غیږ کښی نیوله !

غوټی تش خندا د پاره خوشامندی کړی نسیم ته په زاری وزمه داخل شوه د غوټی د زړه حریم ته
په امید د تحدث نن خوله ئی وازه کړه تسلیم ته امیدونه رقصان راغله سپیلنی ؤ یار صمیم ته

پټ پټانی د احساس ؤ د گلو نو رساله کښی
بل د خیال ناوی جهان غوښت نن د مهر قواله کښی

د فطرت په نندارتون کښی فکر لاړه افلاطون نه د حیرت په خانقا کښی عقل لاس پر یمینت ژوندون نه
چه جذبه د موسی راغله دولت پاتی شو قارون نه سلیمان ته د سحر باد خبر راوړو میگتون نه

اقتدار شو تکامل کښی په یو درنگ لری دنیا نه !!
سلیمان ته د بلقیس تخت اصف راوړه له سبا نه !

پتنگ سر په شمعی ور که د یار مینه کښی فانی شو د شبنم شو گیر ؤ مرته ، په یو څرک ئی اسمانی شو
له ازاره آسمان ځکه سر گردان جاودانی شو چه د یار تاثیر پری راغی قمر ځکه نورانی شو

چه نصیب ئی نورانیت شی شپول ضرور تری چار پیر یږی
گوره شمعه چه شی بله پتنگان تری قربا نیږی

تکامل په نورانیت شی صفائی د زړه پیدا که د کینی له چرک او گرد نه نن د زړه خونه صفا که
تل د حق په مقابل کښی سربازی لکه موسی که په تادو د صداقت نن د ژوندون تعمیر بنا که

دا الهام دغه سوغات می راوړه نن د خیال دنیا نه !
سربازی زده که پتنگ نه رڼائی واخله زمانه !

ښاغلی محمد عالم اتمان

(زمونږ دیموکراسی دنیا) څه وائی ؟

زموږ ددیموکراسی دنیا له حنجرې ډیورنګه داغږونه راوزی چه زه د مظلوم انود خوږ زمنو او مصیبت ایدا و زدو ملهم یم . زه خو تل ترله دخوارانو او بې وزلو بې زده پورې ملګرې یم ظلم ، او ظالم بې دواړه تریام بداو یه ښه ستر ګه نه ورته ګورم. زما بلان او نقشه داده چه د ظالم جړې و باسم د غلامی او استعمار تغرقول کړم .

زما فریضه ، زما وظیفه ښه یه دنیا کښې داده چه د عدل ، انصاف او مساوات له مخې د بشر د خوږ ژوند سعادت او امن وسلام دپاره یه ډېر اخلاص بې آلایشه خدمت او کار وکړم . تاسې وګورئ ما د بهودو بې نامه بې نښانه یوه غریب کام ته چه د مسافرو یه دود به ئې کله یه یوه مملکت او کله یه ئې یه بل مملکت کښې د ګاونډی توب یه نو ګه شپې سبا کولې هغوی ته مې بو آزاد او خپلواك حکومت ور کړ.

داندونزیا استقلال مې خوندی کړ دبرما له ګرېوان څخه مې د استعمار لاس و کښې -

له هند او سیلون نه مې هم د استعمار امن و غښته شم ، لبنان ، شرق اردن او نورو ، ودو ، ودو کاموته مې د خپلواك او اختیار واګی یه لاس ور کړې - مراکش او لیبیا ته مې هم یه زړه کښې دی چه خپل حقه حق زرترزره ور وسپارم

د جاپان او المان سره مې یه سوله تمامه کړه - د ایران د تیلو مسئله هم ژدې ده چه حل شی ، - هو ! اوس یوالحې او یوالحې د کوریا ، کشمیر او د کانال سوز د مسئلو یه حل کولو لګیا یم - هوز ، ظلم پرستی نه خو ښوم او نه مې ورسره څه کار شته -

زما منظور یوالحی عدل ، انصاف او مساوات دی ، زه له دې ټکی قطعا تیریدونکی نه یم .

هوزه خاوند (جل جلاله ددې دپاره جوړه او پیدا کړې یم چه حق حقدار ته ورو سپارم او د غلامی بتان مات کړم - نو که خوك غواړی چه زه دې آزاد او د نورو له منته دې خلاص شم ، نو هغه دې راشی خپل حق او مظلمه دې راته بیان کړی ، زه یه ددوی ښځه نه عوزر نیسم ، او خپل حق به ئې ور وسپارم انشاالله ! خوك چه زما یه سلا کار او د امن وسولې احترام کوی ، زه هرومرو د هغو ملګری یم -

نوای ګرانو پښتنو عزیزانو ! که تاسی خپل حق او آزادی غواړی ، دغه ورځ او دغه مو ځای دی - دا بمباری او ظلمونه ، او دا شیخونونه چه ددې ننني دومینیون له خوا نن یه تاسې کېږی ، والله د دنیا یه مخ یه بل بشر نه دی سوی ګوري ، ستاسو خدائی خدمتګاران ، چتی او بی ګناه ددوی له لاسه یه تورو چیلو کی شپی سبا کوی ، کورونه مولوټ ومالوته موضبط سول ، جا یداد ، لحمکه او نوره هستی دریاتې نه سوه ، د خپل سره لحان او مال واك و د نورو دی ملکونه مو پنجا بیانو و نیول کوندې ، رندې ، یتیمان مو د نورو خیر خواره شول - دا ولې ؟ او د څه پاره ؟

دا خو تش د خپل حق یه غوښتلو او که نه ، تاسو خو یه چه ظلم او تیری نه ؤ کړی ! هو ! خدای زو ، تاسو د خپل حق یه غوښتو ، تباه او یو پنشوی .

دومره ظلم ؟ یه خدای چه دومره ظلم خونه وینم او نه سته ! راشی ، یه غوته او اتفاق سره خپل مشران ددې دیموکراسی دنیا مرکز (یونو) ته واستوی ، خپل حق او د ظالمانو کارنامې ورته بیان کړی ، او خپله حقه آزادی یه تینګه تري و غواړی ، دامنم چه هغه به ستاسو حق یه حقه وګټی ، او غزیه مو واوری لحکه چه ، تاسو خو دې دیموکراسی دنیا ته یه هرلحای کښې ډېر دقدر ور خدمتونه کړی دی . او هلته خو تاسو ، دوی ته ددوی لوی رقیب خملولی دی - دا ویلی سم چه هغه به تاسو ، له نورونه یه ډېره ښه ستر ګه

(باقی یه ۱۸ مخ کښې)

ښاغلی باور رحیمی

ووایه دا سړی څوک دی ؟

دا سړی نیمه ورځ په خپل ځان په قهر وی او نیمه ورځ په جهان

دا سړی دائری نه په لس بجی ځی دوه ساعته کار کوی او نور په خپل اطاق کښی ناست وی دورځی دناستی او دشپی دپریوتو دځای فرق ئی نه کېږی دخوب په استراحت او دناستی په لذت نه پوهېږی

دا سړی بل چا ته سلام نه اچوی او د ډېره کبره دبل چا سلام هم په صحیح صورت سره نه اخلی دا سړی دډ کتا توری دمکتب متعلم دی او د دیمو کراسۍ دمکتب په معلمۍ مقرر دی . دا سړی چه سهار په لسو بجو دایری ته ورځی آرزوئی داوې چه مامورین او معاونان او متعلمین دې ټول زما استقبال کوی او تیارسۍ دې ولاړوی .

دا سړی په یوه تشکر چه دده ځنې و کول شی دسړی مرګ مباح ګڼی او دیوه سړی خوشحالی او د جامعې بربادی خپل افتخار بولی .

دا سړی پښتون دی مګر د مغلو پولاونه ئې ډېر خوښېږی او د ډېرو سوکړ ک خورو پښتنو حقوق په یوه پولاو باندی خرڅوی .

دا سړی عالم دی مګر حقیقت ویلی نشی حقیقت پټول او د روغ ښکاره کول خپل علم ګڼې دا سړی چه په تیلفون کښی خبرې کوی که څه هم ده ته وویل شی چه فلانی صاحب ستاسی سره خبری کوی دې چه غوږۍ واخلی او غوږ ته ئې و نیسی بلی ، بلی ناری وهی چه څو دهغه بل طرفه نه ده ته سلام واچول شی .

دا سړی چه په بازار کښی ځی خیال ئې داوی چه یو لس نفره دې ما پسی روان وی دا سړی د پښتون قوم دموجودیت او ترقۍ مخالف دی هیڅ پروائې شته دی دهېچا نه نه بېرېږی .

ددغه سړی په باب کښی زما سره تحقیقاتو نه ډېر دی مګر اوس ئی دښکاره کولو وخت نه دی نو ووایه دا سړی څوک دی ؟؟

(د ۷ مخ پاته)

د ګوری ، او ستاسو مغه شانداري ، فدا کارۍ او کار نامې ، هېروی ، ستاسو حقه آزادی او استقلال نه په ډېره ښه وجه تأمین کړی او فرضاً که بیائی هم ستاسو حق ، حقه و نه ګاڼ ، او غږ ته موچا غوږونه نیو هلته مو بیا هم چا توره له ملانه ده خلاصه کړې ، بیا هم کولای شی ، چه خپله آزادی او خپل حق د خپلی توري او خپل غیرت په زور له غاصبانو واخلی ، پرېږدی ، چه هلته دسولې د ډال و نړ ېږي او بیا د امن درمند اور واخلی - او ستاسو د مظلومانو د آه به اور کې وچ ، لا ده دواړه وسوځی -

هو تاسو ورشی او ورته ووایی ، که چا حق در کړ خو ښه ! او که نه ، چا نه خو به پړه نه پاست .

یوهان وائی (په سلو ووهل شي ، په یوه ملامت مه شي) نو ورشئی ، ورشئی ، ورته وایی ، خپله آزادی او خپل حق په ټینګه سره ترې و غواړی .

دسویټ داد یا نوله انگریزی مجلې نه :

مترجم ښاغلی نور محمد تره کی .

دلیکونکی مهارت

(۲)

یه دې کښې هیڅ شک نشته چه هر محلی لیکوالنکی چه د مختصر لیکلو یه مکتب کښې روزل شوی وی، ناولست نشی کیدی یعنی هر محلی د رومرو ددې اهلیت نشی موندلی چه دی د ناولو نه ولیکی ، خو عقیده لرو چه هر ناولست باید دلنډ لیکلو د آرټ یه سبوری کښې روزل شوی وی . که یو لیکونکی مستقیماً د ناولونو یه لیکلو پیل وکړی یقین دی چه خپل ذاتی کار به اسی بوې عالی او یه زړه پوری درجې ته ونه رسولی شی لکه هغه لیکونکی چه ټې رسولی شی کم چه دلنډیز لیکلو یه مکتب کښې روزل شوی وی . « برسیدلی » مضامین یه دغیټلو مضامینو بدلول وازی دلنډ او مختصر لیکلو یه مرسته حاصلیدی شی .

ولی د چینوف او گورکی قصې او لیکلو د سویټ یه ادب کښې تر اوسه پوری لیکونکی داسی بریښی؟ او ولی د دوی لیکنی لیکه د ورو خلکو قصې او لیکلو د محوه نشوې او خلک هغه د ورځی د مضامینو یه حیث له مغزو او افکارونه وبه وتلې ؟ دالحکه چه د دوی یه لیکنو کښې د اجتماعی ژوند رنګ پروت و، او د ژوندانه هغه اړ خونه ئې خپرلی دی کوم چه یه هغه وخت کښې د اجتماع مختلفو طاقتو او ډاوو د رلودل، بل حقیقی اورښتنی علت ئې دادی چه دې دواړو یاوړو لیکونکو خپل ټولی قصې او ناولونه یه خورا لیاقت او دقت سره لیکلی دی او د دوی یه لیکنو کښې د دوی قوی او غټلی ذهنیت ښکاره پروت دی ، د دوی یه لیکلو کښې به هیڅکله بازاری او سپکه لهجه و هوینی ، د دوی خپل دلیکلو متن او قوی طرز ته هیڅ کله تنزل او تغیر نه دی ورکړی د دوی تل یه خپلو لیکنو کښې د آرټ او حقیقت وفاداره و .

پوښه او حقیقی لیکونکی تل یه او حقیقت ګډ مضامین او مقالې لیکی . د اوږدل لیکونکی که لنډ لیکی او که ډیر کنډول لیکی او یا وه مقاله که ئې ورځ یا نیمه ورځ یا ئې هفته واری خریدې ته لیکی، تل د حقیقت ګډ داسی خواږه او یه زړه پوری مضامین لیکی چه سمدلاسه د ویونکو یه فکر او ذهنیت باندی تاثیر اچوی .

هر څوک د خپل فکر او ذهن یه مرسته باید « مهارت » لوړی درجې ته ځان ورسوی . مهارت حاصلول یه یوه معینه اوتا کلمې وسیله سره یه لاس نشی راتلی بلکه یه هره وسیله او واسطه چه ورته ممکنه وی باید د الوړ مقام ځان ته حاصل کړی . هو ښت چه هر چا قلم یه لاس کښې واخیست باید دیوه آرټست غوندی مسئولیت د ځان د پاره یه نظر کښې ونیسو . که څوک د کوچنیو شیانو یه لیکلو کښې دفت نکوی او مقالې، تبصره یا حتی یو ملګری ته یو خط یه لاقیدی او بې پروائی کاږی نو وهغه یه د اول اوبوې یه زړه پوری قصې یه لیکلو کښې هم د « مهارت » درجه ونه موندلی شی . له دې جهته نو یو لیکونکی باید د خپل ټول عمر د پاره د عرشی یه لیکلو کښې بې پروائی او لاقیدی ته خدای یه امان ووائی او له دې بلانه ځان وژغوری . له لیکونکو نه د خلکو او ویونکو غوښتنه او تقاضا د هغو د ژبی تکمیل او بشپړوالی دی یعنی د لیکونکی د ژبی د زده کړې او چت معیار خورا ډیر اهمیت لری .

یه ملی ادبیاتو کښې « ایالت پرستی » خورا ډیره د تنقید او ګوتی نیولو وړده او دا فکر او حس د مملکت د ژبې مشترک او ګډو ادبیاتو ته لویه صدمه رسوی . یه خپله ژبه کښې بې لزومه خارجی لغات

راګډول دلیکونکو دپاره لوی عیب دی او له دې نقص نه باید حتی الامکان ځان وژغورل شی . د «ایالت پرستۍ» بلا او په ژبه کښې د خارجي لغاتو بیځایه راتویول دواړه د ملي ادبیاتو او ثقافت دپاره خورا ضرر لري . ګورکی په خپلو لیکلو کښې تل «ایالت پرستۍ» د ملي ادبیاتو دپاره یونا معقول او بې ګټې شی بلل دی چه دده له دې نظر ئې سره ټولو اتفاق او قناعت څرګند کړی دی .

خو البته دا باید په نظر کښې ونیول شی چه که د مملکت په یوه ګوټ کښې کوم داسې لغت او کلمه دلیکونکی ترنظر تېره شی چه وهغه ته ملي ژبه اړه وی او یا دهغې ذخیره پرې ډېرېږی نو داسې لغت باید سمدلاسه واخستل شی او ټول کوشش وکاندی چه دې ډول لغت ته عمومیت ورکاندی او هغه د ملي ژبې جزء اوپره رخه کړی . دې عمل ته «محل پرستۍ» نشی ویل کیدی بلکه دا کار د ژبې د وړاندې تګ او تکمیل دپاره ضروري ګڼل کیږی .

داسې محلي لغت او اصطلاح چه هغه وسیع او معینه معنی ولري او پرغوږو باندې هم بدنه لګیږی د دې وړوی چه باید په عمومي ژبه کښې راواخستل شی ، او په لږه موده کښې به د ډېر استعمال په اثر هغه عمومیت ومومي او د محلي والي شکل به ئې بدل شی . په ژبه کښې د «ایالت پرستۍ» معنی داده چه باید په عمومي ملي ژبه کښې د بیځایه او ناوړه تعصب په اثر هر ډول محلي ناوړه لغت ګډ نشی او ژبه د هغه په اثر ورانه ویجاړه نشی ، مګر دا نو دا معنی نلري چه محلي لغات به چه عمومي پېژندل شوی لغات ئې ځای نشی ډکولی په ژبه کښې راګډ نشی بلکه دا ډول محلي لغات د ټولو له خوا په پراخ زړه او ښه مینه و منل شی او د هغو په تبلیغ کښې ګډه مجاهده وکړی .

له دې سببه یو لیکونکی حق لري چه محلي ضروري لغات او اصطلاح ګانې استعمال کړی خو په دې شرط چه د داسې لغاتو او اصطلاح ګانو استعمالول ضروري او موزون وی .

ولی موږ په لیکلو کښې د یوه هک او لوړ تخنیک درجې ته رسیدل غواړو ؟ دا ځکه چه د علم او مفکورو ثروت تل د تکمیل او بشپړوالي شکل او بڼه غواړی او د هغو د ښو او معقولو اظهارولو دپاره دلیکلو «مهارت» ضروري شی دی . لوړ او عالي لیاقت دې ته وائی چه یو سړی عالي او حیاتي حقایق منتقل کولی شی . دا فکر او احساس چه یو پیاوړی او لوی لیکونکی یو دروغ او بې حقیقته شی د حقیقت په ډول څرګندولی شی بې ځایه او بې اساسه دی ځکه چه دروغ تل دروغ وی او پر یوه او پیاوړی لیکوال او یا یوه مبتدی لیکوال دواړو باندې یوه درجه لري .

دلیکلو ښه «مهارت» دادی چه د خلکو احساسات او تجربې په ډېر ښه او موثر صورت سره تمثیل کړی . حقایق او د ژبې ښایسته والی ، د ټولو اشکالو او عناصرو مناسبت او موزون والی ، د ویونکو په فکر او حرکت ، د هغو په ذهن او تصور کښې خورا ژور او قوی اثر اچولی شی ، خو یوازې د ژبې غوړوالی او یوازې د «پرسیدلو» الفاظو یو ځایوالی هیڅکله د چا احساسات نشی ښورولی .

دا «مقصد» دی چه د هغه دپاره یو کار کیږی او د هغه کار پروسایلو او آلاتو باندې حاکمیت او لاس مومي . دا «مفکوره» ده چه هغه داسې الفاظ جوړوی او تربیه کوی چه د هغو په مرسته «مفکوره» میدان ته راوزی او بل چیرته منتقله کیږی . یو حقیقي او ښه «ماهر» د مفکورې د اظهارولو او د انتقالولو په وخت کښې هغه نه خړوی او هیڅ صدمه نه وراړوی بلکه د دې عمل په وخت کښې هغه په داسې ښه او ښکلو شکل میدان ته راباسی ، لکه شکلونه او بتان چه په عکاسي کښې تمثیلوی .

(پاتې په ۲۲ مخ کښې)

له ترکی مطبوعاتو څخه:

مترجم «رحمانی»

د مستعمرو تصفیه

استعماریت ښه شی کېدای نه شی، خو یه دغه ناوړه سیستم کښې چه کوم خورا بد استعماریت دی هغه هولندیانو په هولندی هند کښې به (زاړه نامه) او په اندونیزیا کښې به (نوی نوم) تطبیق کړیدی، په دغه شته من مملکت کښې چه نفوس ئې له ۶۰ ملیونو څخه اوړی، څو تنو بې تکیې او بې نسیه هولندیانو حکومت کاوه او دشتمنی دغه منبع ئې گډه وډه کړه د اندونیزیا خلکو هولندیانو ته تردې اندازې په سپکه سترگه کتل چه په دوهمه عمومی جگړه کښې چه مخرد جاپانیانو په دغه شته من مملکت برید وکړ، د هولند امپراطوری محو او جاپانیانو هولندی هند په آسانه لاندې کړ.

په لرې شرق کښې برسېره په هولندیانو، انگریزانو، هندوستان، فرانسې، هند چین او امریکائی یانو د فلپائن جزیرې خپلې مستعمرې کړې، دا یوه تصادفی پېښه وه چه امریکا یانو د فلپائن جزیرې ونیولې ځکه چه دا یخپله مستعمره اوله اوږدې مجادلې نه وروسته ئې خپل ځان له علامی نه بچ کړی ؤ نو ځکه ئې

(د ۲۱ مخ پاتی)

دا اساسی حقیقت باید په نظر کښې ونیول شی چه «آرتست» او «ماهر» کومه رتبه او یا القاب نه دی. که یو لیکونکی د «مهارت» درجې ته هم ورسیږی بیا هم د «مهارت» ارته سرحد نور بشپړ والی او تکمیل ته اړه لری «مهارت» کوم معین او ټاکلی سرحد نلری.

گوئټه په خپل اثر «شیکسپیر او «پای» کښې وائی «دا فکر مه کوی، چه هر شی چه د لوړ عالی ماهر په ذریعه اجراء شوی وی هغه به نو لوړ او عالی وی» واقعا خورا لویو ماهرانو دا سهوی کړی دی مگر دوی ته ځکه لوی او پیاوړی ماهران ویلی شی چه دوی تل د دغو سهوو او خطاگانو پر ضد مجادله کړې ده. «مهارت» حاصلول دومره آسانه کار هم ندی. چیخوف په خپل یوه لیک کښې دا سې وائی «هر څومره چه یو شی ښه وی، په هغه شی کښې سهوه به هغومره ترخه وی او په هغه اندازه سره به ئې تصحیح هم مشکل کار وی» د پیاوړو لیکونکو تجربو دا ثابته کړې ده چه یو آرتست ته دوخت به تېریدلو په خپل کار کښې کوم سهولت او آسانی نه موندې کیږی بلکه هغه لا نور هم ورته مشکل کیږی خو دا ډول مشکلات دده دپاره د زحمت او خواری سبب نه کیږی بلکه دده د روحی خوند او حقیقی خوښی موجب کیږی. دا ډېره مهمه ده چه یو سړی کار او په هغه کښې دقت د خپل روح د پاره عادی او ضروری وگرروی او چه هغه انجام کړی نو روح ئې آرام شی. د دې آرامی په قدر او قیمت لیکونکی ښه پوهیږی.

د (گورکی لټرری انستیتو) کښې دا خبره په تجربه ثابته شوی ده چه هغو شاگردانو چه په زحمت سره ئې لیکل کول او په مشکل سره ئې کوم مضمون ترتیبولی شو هغوی تر هغو شاگردانو چه په آسانی او بې زحمته به یی لیک کاوه ډېر موفقیت موندلی دی. د دې دلیل ساده او واضح دی هغو هلکانو چه د لیکلو په مهمو چلو کښې په دقت سره تله او په مشکل پرې پوهیدل نو هره خوا او څنډې ته به ئې فکر او نظرؤ خودا نورو به دا اړخونه په بې توجهی سره تېرول. له دې سببه دا مهمه ده چه له ابتدا نه لیږ ولیکل شی او ښه ولیکل شی. په کمیت خوشحاله نه شی کیفیت ته توجه وکړی. (پای)

له استعماره کرکه کوله .

په وړاندې عصر کښې اتازونی د کوریا د جزیری د آزادی د مجادلې په اثر په مستقیم صورت له هسپانیې سره تر دېره وخته جګړه وکړه او د فلپائن جزیری چه په هغه وخت کښې له هسپانویانو ونیولی امریکایانو د هسپانیې له جګړې وروسته د فلپائن جزیری د خپل تصرف لاندې وساتلی د امریکا ئیانو پهزړه کښې وو چه د فلپائن جزیری آزادی لری او له دوهمې جګړې نه مخکښې د امریکا کانګرس دهمدې مسئلې دپاره یو قانون برابر کړه په دغه وخت کښې د دوهمه جګړه ونښته او د فلپائن جزیری دلری شرق د نورو مستعمرو په څېر د جاپانیانو لاس ته ورغلې، د لرې شرق نورې مستعمرې اواندونیزیا چه له لیدیانو غوښتل چه هغه بیا خپلې مستعمرې کړی، او سره له دې چه د فلپائن خلکو د امریکا یه مرسته له زور ګیرو سره د خپلې آزادی د پاره تر دېره وخته مقاومت وکړ بیا هم جاپانیانو په آسانی ونیولی، دا مسئله له دې نه پیداشوه چه امریکایانو د فلپائن جزیرو ته د استقلال وعده ورکړی وه نو هر کله چه امریکایان پخپله وعده ولاړ وو نو جګړه لانه وه خلاصه شوی چه د فلپائن جزیری آزادې شوې او ن ورځ فلپائن یو آزاد دولت اوله متحدو ملتو څخه یو مملکت ګڼل کېږی ، له امریکا نه وروسته انګلستان ته د اسیائی مستعمرو د زاړه سیستم د نصفېدې فکر پیداشو ، انګلستان چه یو پخوانی استعماری دولت ؤ نو د عصر د تحولاتو له امله د مستعمرو د زاړه سیستم د نصفېدې په خیال کښې لاړ مګر هر کله چه د انګلستان امپراطوری د پره لوی وه نو ځکه دغه مسئله هم ولمنډېده او هر کله چه د انګلستان د امپراطوری غټه برخه هندوستان ؤ نو انګلستان چه به دې باب کښې کوم لوی کام واخیست هغه د دوی د دعوا کانو د جدیت یوه نښه وه د انګلستان دپاره د یوه غټه مسئله وه، چه هندوستان، برما او سیلون آزاد او متحد شی او د اسیائی امپراطوری لوئې مستعمری تصفیه شی او دا مسئله په لنډن کښې د برما او انګلستان په منځ کښې فیصله شوه . امریکا او انګلستان ته چه د خپلې اسیائی امپراطوری د مستعمرو د تصفیې خیال پیداشو، او فرانسې هم په دې وضعیت کښې لاس اوپښې وغورزول او وایې چه د فرانسې امپراطوری د امریکا او انګلستان له امپراطوری نه لوی د دغه کار په تصفیه کښې اقدام کړی وای نو هر کله چه امپراطوری مستعمره یوه مدی فره او بل د دوو مدو حیثیت لری ، فرانسې په دوهمه جګړه کښې د واړه بت کړل او سره له دغه کیفیته ئی د هند چین د استعماریت سیستم ولمنډا و د انګریز او فرانسې په پولیټیک کښې چه کوم ښکاره توپیر شته هغه دادی چه یو د دیا لیتری په مقابل کښې سرتاپه وی او بل فقط د قوت په مقابل کښې تسلیم ته ځی او د دغو دوو امپراطوریو د استعمار د عملی کولو په تصفیه کښې هم ښکاره فرق شته . هولنډ هم غوښتل چه د انګلو امریک په لاره لاړ شی خو په استعماری تصفیه کښې ئی لحان او نور غواول لکه چه د اندونیزیا د خونړی جګړی په مقابل کښې ورته داسی مسئله پېښه شوه چه هغه ئې هډو به خوب کښې هم نه وه لیدلی هولنډ د مسلحو فوځونو یو سیستم منځ ته را وښکلی ؤ چه انسانیت تری کر کړ کوله، ګمان کاوه شی چه سخت تېر ونلی ؤ هولنډ له اوږدې تیاری نه وروسته ناخاپی حمله وکړه که وی اول کامیابه شوی هم وای مګر که دوی په دغه سیستم پسې روان ؤو آخر ناکام کیدل لحکه چه د استعمار سیستم د غلامی د سیستم په څېر یوه تاریخی مسئله ده چه هغه هیڅ طاقت بیا نه شی ژوندی کولی .

(پښتو کوونکی ، جرار)

آه څومره ښه ساعت او څومره خوږه شېبه؟

هلته د سپین غره په لمن کښې د کلو او باندونه بهر په شګلینه دښته کښې چه تازه د پسرلی بارانونو مینځلې اولمر په خپلو ظلائی وړانګو وچه کړې وه

په هغه ځای کښې چه د آسمان د یارلسمې پیغلې نه سپین شال په مځکه غور ځیدلی ؤ او لوڅ مخ ولاړه وه...!

هلته چه کائنات ټول په خوب ویده او بشپړه چپتیاوه...!

آه څومره ښه ساعت او څومره خوږه شیبه؟؟

درقیب ډارنه د محتسب نه لری هغه وخت چه ته په ډېر زړور توب او بی نیازی زما څنګ ته راغلې او په ډېر خوند او مزه دې ماسره پټ پټانې شروع کړې!

آه څومره ښه ساعت او څومره خوږه شیبه؟

هغه ګړی چه تا خپل سپین مړوند ماته بالښت کړ او د خپلو مشکینو څڼو په تیاره کښې دی دژوند او به په مانوش کړې او زه دې د شونډو په شرابوله ځان نه بیځانه کړی وم! هغه وخت چه تا په خپلو ګیلو، ماڼو زه ویښولم هو! هغه شیبه څومره ګړندی تېره شوه او په څومره چټکی دغه د قدر شېبه هغه د وصال او محبت شپه سباشوه!

آه څومره ښه ساعت او څومره خوږه شیبه؟

هلته چه تا د خندانه ټیکری په خوله ماند.

هلته چه تازه د خندانه ایسا رولم او زما په خوله دې لاسونه ایښو دل! هغه د سهار نسیم چه ستا د زلفو خوشبو ئی ئی به ګلانو پاشله! هغه د سپین غره سپینه څو که چه سپینی سپوږمۍ ورباندې خپلې زرینی وړانګې پاشلې او ما او تا ورته کتل!

آه څومره ښه ساعت او څومره ښه شیبه؟

زه اوس هر ځل د دغه سپین غره سپینی څوکې نه د سپوږمۍ د سپینو وړانګو لاندې ګورم لاکن نه هغه وصال شته او نه هغه خوږه شیبه! آه داسې ساعت به کله راشی!

آه څومره ښه ساعت او څومره ښه شیبه؟

(پ،م)

د عبدالحمید مومند دیوان

(۱۵ برخه)

مینه ملك د آرامۍ نه دی فتور دی — خطا شوی په کې وار د هر مغرور دی

دجهان ښادی پرې غم ده خواږه زهر — چه دعشق له تاوونی رنځه رنځور دی

واصلان په زنکدن د بېلتا نه دی — که له هجره دم ختلی د مهجور دی

په رڼا د ښکلی مخ ئې مه غولېږه — لګولی اور په خلکو دغه نور دی

د پیوند قابو ئی هېڅ نشته ناصحه — محبت مې هسې زړه پرېکړی چور دی

چه مدام ترې (اوښی) وینې ځی حیران یم — دامې ستر کی دی په مخ کې که ناسور دی

چه د آه په ځای لمبه را څخه خېژی — نه پوهېږم چه مې خوله ده که تنور دی

نن ګواهی پر حمید د رسته دجنت شوه

چه ئی ناست په څنګ کې تار نګه نر حور دی

ستا دمخ هسی بی جذبه پرتو نه دی — چه جهان په سر او مال درته دونه دی

چه مې ستا دعشق پیسی دی په لاس اېښی — را و ستلی مې د ګټې پو پو نه دی

ډېر ستا پلی شیخ، ملا دجنت حورې — چه مې ولیدې مخۍ د استا یو نه دی

چه ئې څوك په خوب کې ووینی ونه مری — یاره ستا دبېلتا نه هسې بو نه دی

چه دوچو ستر کو شرم مې پرې پټ شی — راپری اېښی داستا عشق هو مره نو نه دی

ستا په ستر کو دغفلت پر دې پرتې دی — ګڼه یار په مخ نیولی پلو نه دی

دغمزو په تېغ ئې تر کو سپینی برې کړې — وس مې زړه وجنګ ته چوی ددو نه دی

چه په مینه کې غنم غوندې ونه چوی — پوچ په کار دا هسی زړه په یو جو نه دی

چه په سر او مال غړوی غاړه له یاره

خدای دې نه کا حمید هسې خو درو نه دی

چه په لاس کړی ګل اندامه سپین وښی — له غیر ته شی هلال وښی وښی

نښتی زړه ارجل برجل په دام د زلفو — په دروغو کړی پرهېز ته ځان ګواښی

دادعشق خوار ی زاری مې ئې ژړلې — مو روپلار چه راته نیو ز یره نکښی

هېڅ پروا له اغیار نشته که یار خپل شی — له څښتنه کړی سا تنه کوم کښی

دبوسې په وخت ادب د مین ورك شی — وو ړ کی کېږ لاس په خوراك منډی هم ښی

تورې زلفی د نګار را غلې تر لاسه — چه اطلس غوندې په ستر ګو پورې مښی

چه لیده په کې یاران دمجلس نه شی — د د نیاله سرای ئی کوچ و کړلښی
چه پرده شی نا محرم ساقی ته سپړده — د شرابو په ځای و ینی د ځان څښی

چه د استاد نا فی بوی اخلی حمیده
څه به نه وی خوش د ماغ غوری خښی .

لکه ته هسی رقیب په ما غالب دی — که دی سپی دی ستاددرزما صاحب دی
که رقیب هزاربدی کړی زه به نه کړم — ستا له مخه ئې ادب په ما واجب دی
چه دې زړه هسی ناشونې په ما کا ندی — ما ته هر نا مناسب ستا مناسب دی
که مې وښکه ستامانې ساله صورته — څه شوستا دمینې غم په کې نائب دی
په مطلب دلېونی خاطر حیران یم — نه پوهېږم چه له تا دڅه طالب دی
په وصال کې نا قرار له هجره ژاړی — چه نسبت ئې روزی شوی عجایب دی
په سبب داستا د عشق د غورو جور — په یوه نفس راغب په بل تائب دی
خدای دې خیال راته حاضرلره دلبره — مخ دې څه شو که حاضردی که غایب دی

چه حمید دوصل لاس غواړی له دوسته
کوم گدا موندلی ماۀ مراتب دی

چه په تور د عاشقۍ شی ځنی بای — سرو مال شی د هغو خلکو په ځای
که دې مینه هډو پوست کړی زهیرمه شه — شی هلال له لاغرۍ انگشت نمای
داښادی ده چه ئې غم کړ په ماروږ دی — گڼه کله لگی غل په ویران سرای
ما ته پېښه شوه خواری د یار له خطه — که بښی چا ته دولت پر د همای
تر نا حقه رقیبان کا په مار خه — گڼه څه دی د سپو لاندې تر گدای
نه ناصح وما ته پند برای خدا کړی — نه پیشو نیسی مېزك برای خدای
لکه کاه چه کهر با څکوی وځان ته — هسی ما څکوی جذبه د دلر بای
دا په کبر لیچن کسی به دې روغ شی — که څښکو کړې د خوبانو خاك پای

خود رائی له هغونه زېږی (۱) حمیده
چه مین شی په خودرو ، په خودنمای

---

(۱) په چاپی نسخه کی داسی راغلی دی (خود رائی له هغو نه کېږی حمیده)

چه په مخ ئې زدو ګیرد خط آغاز کړی — نور بدل د ساده رو یوناز په نیاز کړی
دښه مخ همای هاله کړی په چاسیوری — چه شهپرد خط و خال راوړی پرواز کړی
چه ددې ابرباران ور باندې ښکې شی — بې ثمره سروې ځان ثمر ته ساز کړی
خاص خلوت دښکلو عام په وخت دخط شی — کم قوت صوبه (۱) له هر چا سره راز کړی
چه دتر کو په جا دو ړانده کاڼه شی — بیهوده ورته ناصح دپند آواز کړی (۲)
لبز ژوندون په عاشق ډیر کړی دیار هجر — لنډ مزل یوا ځې تله دورو دراز کړی
دوریځې میاشت قدری وی په لیده کښې — نوخطان بې ځایه نه کاندی که ناز کړی
خدای مې یار ته رقیبان تر پامه ښه کړه — ګڼه ښکار د چتو کله ګټه باز کړی
د ر ښتینې مینې آه وفریاد نه وی — لکه شمع پټه خوله سوزو ګداز کړی

حقیقت به د حمید ورته معلوم شی
که ئې غوږ په ترانه څوك د مجاز کړی

چه ګلګونې جامی واغوندی سواری کړی — خدای زده بیا د چا دقتل تیاری کړی
په خلوت کی زاهدان کاندی په لوبو (۳) — زاهدا نو ځنې صبر فراری کړی
په رموز ئې د سرو شونډو نه پوهېږم — چه دخلکو غمخواری که خون خواری کړی
تو یوی به لپی لپی درد او ښکو — چه مې ستر ګی ددیدن خریداری کړی
ګلر خان دهغو ځای په رخسار ورکا — چه شبنم غوندې شبګیر او بیداری کړی
هسې پټ مهر په قهر کې کړی ښکلې — لکه څوك چه کفرستان کې دینداری کړی
دهغه حسن بیان په کوم زبان کړم — چه یوسف غوندې خوبروئې ریباری کړی
له هغو ستر ګو څوك څه رنګه ژوندی زی؟ — چه خدنګ ئې دنظر زخم کاری کړی

فر ښتې د چا په درد نه دی درد منې
و خوبانو ته حمید پو چه زاری کړی

درسته شپه چه مظلومان آهونه زور کړی — سحر پوری د فلك په لمن اور کړی
که ئې هر څولو غړن د آه په اور کړی — څوك به خوی د کجروی د فلك نور کړی
یو دبل په دردوغم خوښ و خورم کړی — دشبنم په ژړا ګل په خنداخور کړی

---

(۱) یعنی صوبه دار (۲) دا بیت په قلمی نسخه نشته
(۳) په چاپی نسخه کی (په خلوت خلوتیانو کوی لوبې) راغلی

په څورنګه جلوه ګر دا بازي ګرشي — کله سپین کله سورشین کله ځان بور کړی
کله واغو ندی نمری شینکی د ټګو — کله خړشی ځان له قهره برګ وبور کړی
ما خوښه! دتورو ستر ګو په تور نیسی — فلك کوم له نوره خلکه کلی کور کړی
دائې کومه دلسوزی عدل انصاف دی — چه لا ګل شګفته نه وی بیائی خور کړی
هره سروی چه سرپورته کړی اسمان ته — دخپل ځان په دودئې زمکې ته نسکور کړی

اوره مه او ره وینه مه وینه حمید!
دړندو په کلی کور عالم ځان کور کړی

که مې ولی په سر کانې سل منې — زما خوښه ده دیار کبر او منی
که خوبان وې له خوبۍ لېونی شوی — سر او مال ځنې زما شه سپلنی
له ښه مخ سره دوستې که څوك پوهېږی — دهٔ دځان سره په قطعه د ښمنی
افلاطون لکه هلک تپانچه خور کړی — چه له عشقه په سر راشې لېونی
چه بې یاره خوب خندا کاندی ناصحه! — عاشقان داهسې نه دی خندنی
چه له ښکلو مې ناصح غولوی په حورو — په بانه د بدرګې کا رهزنی
محبت شدنی کار ؤ په ماو شو — نوردې نه شې په هېچاد اشدنی
څوك دې نه غندی شوخی دآهو چشمو — دی آنځور د دې چمن دا چمنی

دحمید دساده شعر کمال ګوره
چه شمله شود تمام سر بنی

سوك په ستر ګو غړوی له غمه نولی — چه مې کښینې ملایك دغم په غولی
هرچه قیاس زما دعشق کاندی په عقل — کوه قاف دشېر شاهو په تله تولی
څوك چه غواړی کامرانی په عاشقۍ کې — اشارې کالکه وړ کی سپوږمۍ بولی
چه ئې دم قدم پخاك خوب وخوراك شی — دی بهتر تر څلور بولو دا دوه بولی
مهتر خضروچې شونډې حیوان سر کړ — سر ګشته د بېلتا نه دبر په چولی
دا چه ما په عشق کې بدبولی وګړی — واړه خدای ته شاهدی زما په ښولی

اوس دې هېڅ دخندا خوندنشته حمیده!
چه دې وژړل په مرګ دانور همزولی

یار په یار د جدایۍ په وقت گران شی — یې له مر گه د سړی قدر عیان شی
وائي: «زوی اولور تر پښو او به تر حلقه» — فراموش په بېلتانه ځان وجهان شی
امیدوار د هجر ضعف کړم له وصله — ولې میل دهمای په استخوان شی
د حیا تو او به زهر کړی د خضر — اندیښنه چه ورته پیښه د هجران شی
نه کړی نوح دیار دخیال و رځنی وېره — که مې اوښکې په چشمانو کې طوفان شی
که دعشق دځوا نیمر گو په عیش پوه شی — نور به خضر په دې ډېر عمر پښیمان شی
وایم پر یو تم وسل گزه کو هی ته — چه په یاد راته دتر کو ز نخدان شی
توري ستر گې سره لبان ئې هسې زیب کا — لکه گډ په لاله زار کې آهوان شی

د آشناله خال او خطه معلو مېږی
چه حمید به مسا فر دهندو ستان شی

دازماله خولې فریاد دعشق په زور ځی — که لمبه دتناره له خولې داور ځی
دوصال په طمع تریخ راته ژوندون شو — سپور طعام ترستونی کله دخوشخور ځی
دآشنا د منگری زلفو په خیال کې — موی په موی راباندې زهر دنگور ځی
د نوخطو په وعده باندې زړه مه زده — هغه ورك شی چه په شپه داور په لور ځی
دمنصور په څېر به سپین سپیڅلی وایم — که مې قطع سر ومال په دغه تور ځی
دا خوزه دزلفو خیال په زړه ملال کړم — گڼه زهر دمار کله په مارخور ځی
زه هغه کار و کردار پېغور گڼمه — چه له مانه پرې دعشق عار د پېغور ځی
ستړی کېږې مین زړه په فریاد کله — لکه دو دهسې داور په لمبه سور ځی

همره بخت کله حمید لری نا صحه !
چه دعشق په تور تړ لی وی سر تور ځی

د هغه مین بر باد آه وز گېر وی وی — چه په یار کښی ئې نه مهر نه زړه سوی وی
عشق په خلکو کې له خلکو هسې بېل کړم — لکه ناست په منځ دخلکو لېو نی وی
څه قرار به کړی قرار په هغه زړه کې — چه په تېغ دعا شقۍ سوری سوری وی
څوك پرې څه تېغ ازمېیل زیات زده کول کا — هر چه بې تېغه حلال لکه ماهی وی
په نوخط حسن اثر دعا شق آه کا — دا په دا چه مسا فر په زړه نری وی

دلا سا په بوسه را کړه دیار شو نډو چېرې نه وی چه مې دا دمرگ بهی وی
چه یوسف پکې معراج کړشك ئې مکړه که د ښکلو زنخدان هغه کوهی وی
که مهجور له ژړا زړه نیسی نیو نشی د سېلاب د نېز وړی واك پردی وی
چه حمید غوندې بلبل ئې سر په گور کړ
هغه ورځ به د باگرام په گلو هی وی

هر چه تاغوندې دلبر ئې په څنگ کېنی دپنو په ځای هغوته او رنگ کېنی
مشکین خال ئې په سرو لبو هسې زېب کا لکه مست په میخانه کې ملنگ کېنی
هسې ټول درقیب خپل، له ما پردی شول لکه لعل چه په خوا کې د سنگ کېنی
هغه سیل کا د گلو په هر دم کې چه په زړه کې ئې بشره دخوشرنگ کېنی
دهغو ناست او و لاړ واړه په دوك وی چه دلبر ئې په څنگ پاڅی په څنگ کېنې
په مهجور ارت جهان هجر زندان کړ ځکه هسې پکی تنگ پاڅی تنگ کېنی
نا صبور خاطر له غمه نه خلا صېږی دنېستگار په سر سواره د قلنگ کېنی
چه ئې نشته یو خو شرنگ ښکلی په خوا کې
حمید ځکه بې ننگ پاڅی بی ننگ کېنی

د نو خطو په صفت می زبان نښلی چه تر دام لاندې دانه خوری مرغان نښلی
دا ئی خط په کناره دمخ جنبش کا که په خوان د شېرینۍ مچان نښلی
دا له نازه کړی خوبان خبرې تتې که د لاړو په خوږ وئی بان نښلی
پاکبازان کا په نو خطو ښکلو مینه دهوا (۱) په شنو کوتر و بازان نښلی
هسی موړ کړم د یار غم له خپله عمره چه په حلق کی می او به دحیوان نښلی
دا نایان په دنیا نښته سره نه کا دا په دا چه په مر دا ره سگان نښلی
چه دا و سپنو ځنځیر شلوی په گوتو هغه د یو په او مه تار د احسان نښلی
ښه جامه دنېکنامۍ ئی په کارنه وی له نېکانو سره ځکه بدان نښلی
چه دبل په کوڅه ورشې سړی سپک شی له سایله سره ځکه سگان نښلی
څه مانه به کا حمید له بیگانه ؤ
چه خپل یار ور سره مشت و گریوان نښلی

---

(۱) په قلمی نسخه کې دهوا په ځای (هنړا) دی او محشی ورته دملك معنی لیکلې ده .

د نـو خطو د لبر ا نو پښېما نی — د ما ښا م دغـر یبا نو حیرا نی
لکه کـاندی خال او خط په ساده رو یو — خزان نه کـا په چمن داویرا نی
زر امیده دعاشق په خوا کې وچ کـا — و رانوی ځوځی ماځوځی ودانی
زدو گیرئې دنور خط هسې هیبت کړی — لـکه و لګېږ ی جنگ سلطا نی
څه گمنامه شوه دخط په هندوبار کې — د خو با نو د ښا یست مسلما نی
په لمنو در گو هر دا و ښکو بو یه — تیا ری دیار د خیال د مهما نی
که هر څوئې په ځان بولم پروانه کـا — خدای خان کړی پروانه کـا په خانی
دا په جمع زړه خنداد سا د ه رو یو — خدای سبب کړه دجهان د پر ېشانی

چه دیده او دانسته په ښکلو غو لېږ ی
شـا بس شـا بس دحمید پـه نـا دانـی

څوك چه ما د یا ر له مینی اړ وی — غر د مـا شی پـه و ز ر و نـر وی
چه په ما د صبر دم لولی چف چف کـا — گو یا تند ر پـه پو کـلو سـر وی
څه به خوب راځی زما د یا ر له خطه — چه اغز ی مې په لېمه کې غړ وی
دغه واړه دپر هېز لـو ئـې و ینـا دی — چه زما پـه سـرئې مـینه وړ وی
چه اثر دیار په زړه نه کـا څوك څه کـا — که مې آ ه لـه بېـخه غر و نړ وی
د کباب په څېر مې زړه مېگونې شو نډې — د رمـوز پـه اور نـیولی کـړ وی
زما غاښ ډېرو خوږو دبو سې توی کړل — نا خبر مې په ځوا نۍ کې زړ وی
هېڅ مې کډې دزړه نه لوړی (۱) له ښکلو — که ناصح دژبې پو ست تل اړ وی

بیا ددهر خزانه ده تشه شو ې
چه حمید په درو لعلو ژړ وی

څو ئې اور دزړه غو نچه شان تر سرنشی — گلرخان به دچا هو مرۀ په برنه شی
هېڅ له خپلې خوارۍ مدوا یه رقیب ته — د لسو زې په مسلمان د کـافر نه شی
بیا به نه مو می څوك و صل دمـهر ویـو — څو فلك غوندې کندپوش قلندر نه شی
لـه سا ده مخه د صبر سبق چـا ز د ه — څو پیزی دخط په زیر و په زوز نه شی

---

(۱) ددې ځای سره (نه گرځی) ښه لګېږی .

چه ئې کا په وچ نا کام له دلبرا نو دزاهد بـه دغـه صبر تر سر نـه شی
هسې شپه دیار دخط له مخه راغله (۱) چه هر گز به تر قیامته سحر نه شی
هغه گل ته شوخ کا ته بې ادبی ده چه له سهمه د نسیم پرې گذر نه شی
چه وهـلی وی تشنگ دیـار د هـجـر تسلی ئې دوصال په کـوثر نـه شی

که څوك غواړی دحمید سرخ رویه شعر
دا به بـې خـون جیگر میسر نـه شـی

له دغه هیبته زړه را څخه رغړی چه می یار را ته د تلو خبرې سپړی
چه له حاله می پوښتی څه خوازمېښت کړی ولی هېڅ له تا نه پټ نه دې ما کړی
ستا په مینه کی می بخت هسی بو له شو که وغره ته کړم تـکیه له بېخه لوړی
چه ئی ته په کنځل و لېږلی مـا تـه چېر ته خدای کړل رقیبان هسی ښه زړی
یا می ته په آه فریاد سره مسېږی یاغو نچه په نسیم پاڼی د گل سپړی
بیا به څوك ته په زندی اوېزان وژنې چه دې زوړند کړل د تورو زلفو پړی
د یوه مـد د و بـل تـه نـه رسېږی عاشقان دی واړه هسی او بو وړی
هېڅ می ښه نه شی په پند د نا صحانو لامی اچوی په اور باندې خسړی

د نوچا دعوه ، تو رهٔ ور باندې نشته
سر و مال دی حمیده تر کوته نو مړی

په راتله دیار د خط یاران په دوك شی باغ چه وتو کېږی لا باغوان په دوك شی
هـله لارو غوږ ته بیا مو می د ښـکلو چه یاقوت په زړه سوری لړزان په دوك شی
په کینه د یوه مخ مین گرم نه دی په یوه ځنځیر کی ډېر بندیان په دوك شی
هغه غوټی په نظر ښـکلی پرانیځی چه ئی ډېر په پرانته لقمان په دوك شی
هېڅ منت دې یار په یار دخواری نه کا تر پتنگ اول د شمع ځان په دوك شی
کاشکی لرې کاندې یار حجاب له مخه زه په دوك یم پرېږده درست جهان په دوك شی

چه حمید د یار له غم کا سوې کر یکه
دپیرانو غونی زېږ دیوان په دوك شی

---

(۱) په چاپی نسخه کې ، (راباندی راغله) دی

چه می بیا موندہ د عشق کیما گری — ځکه شوه خاکی بشره زما زری
چه په خپل دم و افسون رایشی ښکلی — د پر هېږ په زمر ووا چوی وری
په خوله ورد او وظیفه په زړه مین شوم — د نغری په غاړه و خوړم زمری
د بلبلو ژړا نه اوری په باغ کی — ځکه خاندی په قهقه کبک دری
هسی ډوب لاړم د مینی په دریاب کښې — چه مجنون راته ښکاریږی سر سری
مشوش کړم وچ کو گل غمجنو ستر گو — هیڅ می نه زده چه بری یم که بحری
تلخا ئی می د هجران له حلقه نه ځی — که هر څو خورم دو صال شکر تری
او ښوهم راسره پرې کړه په فراق کې — خپل ' پردی دی واړه ملو نه دبری

څه عجب ساده رنگین وائې حمیده
دا زری فکر دې مه شه نظری

د ناصح له نصیحته می سر خوږ شی — لامی زیات له دې تبلو پر هر خوږ شی
تیغ بازی ئی دغمزو کېږی په مخ کی — په نظر د تر کو ځکه نظر خوږ شی
څوك به څه اخلی بوسه له هغه مخه — چه رخسار ئی په نسیم د سحر خوږ شی
هغه اخلی دغم یار په محبت کی — چه ئی سر دباد شاهی په افسر خوږ شی
نهایت دی کړم وچ هډ فلکه تاز ده — که په قتل می د تر کو خنجر خوږ شی
نور به ویاړ زما د آه نه کړې ناصحه — که یو ځله د رته پېښ د دلبر خوږ شی
څه به گوری زاهدان وښکلی مخ ته — دلیچنو ستر گو کسی په نمر خوږ شی
بې هوده مې ورقیب ته خواری ښو ده — کله زړه په مسلمان د کافر خوږ شی

دحمید په څېر او تر او تر زگېر وی کا
چه و رپېښ د یار د هجر او تر خوږ شی

چه فلک غوند ترې خلك وی وی کېږې — هر سبا به ئې زوړ زخم نوی کېږی
سره لمبه شو لا له زار زما له آهه — د زړه سوو په زړه سوو زړه سوی کېږې
دا سپی توب دی زما خوښ تر سړی توبه — که په مینه کی هر څو سړی سپی کېږې
تا بایده زما له صبره له سکونه — چه په دا د عاشقانو کمی کېږې
په پیری کښی عاشقی دخدای عطاده — گڼه څوك په سپینه ږیره زلمی کېږې
لاصاف شوی نه دی شست د هغه حسن — چه له غوږ ئی دویشتلو زگېر وی کېږې

چه زبېښی میگو نی شو نډې د خوبانو د هغو به کله مینه په می کېږی
نه چه عشق تاوونی زنځ بولی ناصحه د تاوون له رنځه کله بهی کېږې

بیاله کومه رخه اور په حمید بل شو
چه له خولی ئی د آهو نولو گی کېږې

د هجران په بلا صبر سکون نه شی په یوه شوا خون بل شوا خو نه شی
چه ئی ووهی تور دېو دعا شقی هېڅ صحت ئی د جهان په افسون نه شی
هو مره زېب نه کړی زیور د عشق په ناوی څو رنځور په کی ځنځیر د جنون نه شی
بیا به نه مو می بوسه له خوږو شو نډو څو دې زړه په شان د پانو پر خون نه شی
هېڅ می سود نه شی د یار په نور وښکیلو په پردی سا خود هېچا ژوندن نه شی
څو همساد الف قد پلاس وانخلی خم قامت به دې ولاړ لکه نون نه شی
په مجلس به د گلر خو سرخ روی نه شی څو دې مخ د زړه په وینو گلگون نه شی
چه ترخولی ئی شی خوازه د خوږو شو نډو هغه زړه به ترخه صبر ته ستون نه شی

که نظر کا د حمید وزبو نی ته
شوخ بې غم به ئی له غمه زبون نه شی

هو مره نه ده د خو بانو مغروری چه قبول کړې پادشاهان په مزدوری
په جهان د صبر زهد فتور گډ شی چه ښکاره شی لکه ستورې په توری
شی د تر کود دستار ها له لایقه چه زړه وچوی د غونچی په صبوری
لاس تړلی له خلو ته زاهد بو ځی چه ورسپور کا د عشق فوج حضوری
چه ئې زدې په خوږه ژبه و میلمه ته سپور سو کړ ک د حمید نیوشی په چوری
تر یوه سوری ئی مخ رانه و نه ښود که می زړه شو په فریاد سورې سوری
چه په سر پورې ئی یار په بالین ناست وی ده تر سل صحته به دار نځوری
هېڅ په سر او په مال اړ نه یم په عشق کی نظرې شو را ته واړه ضروری
که تمام عمر می یار په غېږ کی پروی وې نه کمېږ ی ز ما ځله ، تروری

په دا کار به سخندان توتیان پو هیږی
چه اشعار د حمید خوند کا د چوری

څو آغاز په کې د مېنې سرود نه شي — په نور څه به دې مجلس د زړه تود نه شي
مخ رونړی ویار ته مه غواړه په عشق کی — څو په ستر گو کی د او ښکو مښود نه شي
بو الهوس د محبت له حده څه زده — په گامو نو مخ دزمکی پلود نه شي
چیر ته لپی لپی او ښکی چیر ته صبر — تیمم وا هه په غاړه درود نه شي
که دریاب کړې دوصال ترستونې ښکته — د هجران تندې وهلی پرې سود نه شي
په کبوده جا مه هېڅ کشا یش نشته — څودې زړه له ډېره غمه کبود نه شي

که هر څو په دود د مینې گر ماوه شي
دحمید به د غه دود په بل دود نه شي

که هر څو په جارو پاڅی په جار کښېنی — چه دبل په در کې کښېنی په دار کښېنې
داخواری په خواری مه بوله دولت دی — چه په خپلې پوزې څوك خوار وزار کښېنی
ورك هغه ناست او ولاړ شه که په تخت وی — چه مدام په وباړ پاڅی په وباړ کښېنی
سپك به پاڅی دهغه مسند له سره — چه په سر د غریبا نو یو بار کښېنی
دلجوئی دخلکو کړه دځان په سو لو — که دشمعې په څېر بروروی دار کښېنی
ولې نه کړې دمظلوم له او ښکو وېره — ولې مخ ته د سېلاب په قرار کښېنی
چه نه وخوری نه ئې ور کړی مه ئې وینه — که په گنج باندې په څېرې دمار کښېنی
داد نیا دقراری مقام نه دی — بېهوده ، دېوال په سر څه قرار کښېنی

سر خرو ئی به ئې د لعلو شی حمیده
که په خاورو کی له خاورو نه خوار کېښی

ی

نور په هر حسن وجمال دلبره درستې(۱) — باري یو د آشنائی په کار کی سستې
آزرده در څخه تل یار و اشنا وی — په سا تل دزړونو سست په وړل ئې چستې
چه مې یو الف وبې له حا له نا ورې — بیا دې دی د رقیبا نو پټی لوستې
پر ېواته د رقیبا نو په سر کا نی — ما چه خاورې ستا د د ر په تندی لوستې

(۱) دا غزل د مصرع په آخر کښی د «ئې» خط بی ضمیر لری لکن د قافیی له کبله یو ځای لیکل شوی دی .

ته په نیم نظر هم نه ګوري و ما ته — که زما په زړه چړې ځی درستې درستې
په فانی عمر تکیه مه کړه حمیده
داد خواست جا مې به څولری اغوستې

څه به بوی دعطرونه کا زما ګوتې (۱) — چه ئې دی دګل اندام تنۍ پرانتې
چه مې پان غوندې لړمون دوینو ډک شو — ښکل مې هاله کړې دښکلو شونډی رتې
چه مې هسک په سر کوزۍ دپیری نشی — لادی عشق رانه زبونی وترنی تحته (۱)
دمهجور دسوال ځواب څله څوک ویاړ کا — ولې شی د مرګی حال خبری تتی
دشهید په شانی خدای زما کفن کړ — دا په خاورو د نیستۍ خیر نې ختې
نا خبر دې نه کا ویاړ زما د عجز — دې ګیدړ کړی د مزرو ککرۍ چیتې
دعشق غم مې هسې زړه له غمه خلاص کړ — لکه و باسی شانه له زلفو ګوتې
چه پیدا شوی نا شپاتۍ زما د فکر — اخیستی نه شی په خوله د غره مندتې
د هیچا د مخ کتو قابو ئې نشته
دحمید په ښکلی مخ دې سترګی نښتی

چه په تورو سترګو تورر انجه شی پوری — له یوی توری بلا پاڅی سل نوری
توری سترګی توری زلفی توری وروځی — دا همه توری بلا دی آدم خوری
له یوی بلا څوک ځان سا تلی نشی — ما ته تولی سل بلا شوی پیله پوری
نه د مړو په حساب نه د ژوندو یم — عاشقۍ کړم تر دا میانه پوری دوری
اوس زما له نام و ننګه سره څه دی — ولې ویر کوی ویر ژلی په سر توری
که ته ځانته افلاطون وا یې ناصحه — ما ته عین لیونی د مجنون وروري
اوس به کفر ته د تور وزلفو وو ځم — ګنه مه کوه دپند خبری نوری
عشق د ډیرو زور زوم کړی دی ناصحه — څه غره درو ریاز هد په زوری
کوم یو بوت دې ناست په زړه کښی دی حمیده
جه مدام په پرستش ورته نسکوری

ربه زړه درقیب نرم به احسان کړی — دا هند ورا باندی څه خومسلمان کړې
زما صبر تېره توره کړی په عشق کی — رقیبان ورباندی غوڅ په خپل ګمان کړې

---

(۱) دا آخری کلمې ونه لوستی شوې

چه خاطر د آهو چشمو تری وحشت خوری هغه واره ودا نی زما دامان کړې
اورزما د دین دنیا په کور کړی پوری خو می عذر په عزت د عشق مهمان کړې
چه روښان دیار دمخ په ډیوه نه وی وران زما دزند کیه خا نمان کړې
یا ز ما ن دیا ر دوصل کړی را نوی یا می عمر په هجران کښی یوزمان کړې
چه مدام په نغوته کار کاد اغیا رو له دغه کاره می یار څه خو پښیمان کړې
رقیبان مې د هجران په اور کی ولی دخلیل په دود می ربه په امان کړې

کوره نن په ځیر ځیر مخ د یار حمیده
چه سباور پسی لاس مبزی ار مان کړې

ځانته ښه وائې ښه نه کړې هغه څه وائې دا څه کړې
له اور بشو غنم غواړې ښه به ها له شې که ښه کړې
شپه اوو رخ د نس د پاره حسابونه دو ښته کړې
حق بینی ته لکه سو په غټې ستر ګې ځان و یده کړې
که سو لی ته خپڑا وه شې که کوهی ته پر ېوا ته کړې
هغه غو ز ستر ګې دې نشته چه پرې او رې پا لیده کړې
چه پرې ناست ئی هغه څا نګه پر پکوی خوی د را نده کړې
کړې خا ر په هغه لا ر کی چه په هره سا پرې تله کړې
که در پېښ د د نیا زیا ن شی پسی ژاړې لیمه سره کړې
د خو ز ی نمری د پا ره قبو ل سل نروه ترخه کړې
هومره خوله لکو ی غا پې نر هغه چه څه په خوله کړې
نه کړی سپې د نس د پا ره هغه چا ری چه ئې ته کړې
کله زور کله زا ری کړی ګاه ساره ګاهې غارمه کړې
دا یو ځا ن د نس په ز ېرمه کله سپی کله لپو ه کړې
هغه د م په تا رنا شی چه دبل په کور تیا ره کړې
په د ر یمه په لیتی کښې په بل و یر وی ته وا ده کړې
نه دې شر م شی نه عیب که هر څو د نکړو کړه کړې

که هر څو نا پسنده چا روی — نه ئې پسنده په خپل زړه کړې
کله شیخ کله ملا شې — ستر ګی توري نمری شنه کړې
کله دم لاس په سر ګرځی — ګاه سپا هی توره چاړه کړې
ګاه آهو نه ګاه ژړا کړې — ګاه ویل ناو ده ساره کړې
دا همه دنس په زړه مه — تن پروره او راو به کړې
که بند ګی د هغه خدای ده — نه ئی د وی کانه ئې ته کړې
وایه نور په کومې چاری — ځان خوښی په غوابی خره کړې
که له خدایه دې بایده وی — له خو دی به نا بایده کړې
په خپل نس به قدم کېږدی — د بل ځای به په لیمه کړې
قناعت که په لاس وا خلې — نفس شیطان به سره غله کړې
دم قدم به د نیکانو — پیروی په خواله په زړه کړې
په بد خوی به د چا څه کړې — په خپل ځان به شندی و کړې

خود په خود لوېږی کوهی ته
له حمیده څه مانه کړې

چه په ښکلو پسې ګرځی نرورهسې — تېر وی په خپسر ولې ضرور هسې
لکه تا څخه ورك شرم وشعور شو — نه دی سپی څخه ورك شرم شعور هسې
لکه ته وسادهٔ رویو ته پخسپږی — نه پخسپږی ونارنج ته رنځورهسې
څه کېمیاده عاشقی په لاس در کړی — چدی وینم په خواری کې مغرورهسې
مینې هیڅ سود و فایده وچاور نه کړه — اور لړونی دې کړځان دتنورهسې
لکه نه دعاشقی په کار مشهور ئې — په دا کار کې مجنون نه ؤ مشهورهسې
هیڅ دی نه لګی په غوز پند دپیرانو — عشق دی واچاوه وزړه ته فنور هسې
نور دی رنګ نشته ددین دودانی — محبت وران وویجاړ کړی بیخپورهسې

خدای دی خیال دزلفو خیر کا حمیده
چه دی خوا کې قهر ولی منګو رهسې

داهم هېڅ زنده گانی نه ده گو یا کې — چه بې باره ژوندی پایم په دنیا کې (۱)
څه بلا سخته دانه یم نه پو هېږم — چه کسیانه شوم دهجر په آسیا کې
تو رې زلفې سپین رخسار دنگار وینم — د جهان په هر سفید په هرسیا کې
غړوم له نا څاری هغه شان ژبه — په دروغ که مومم یار که په رښتیا کې
نور عالم که په کمییازر کوی خاورې — مازرخاورې کړل دمینې په کیمیا کې
چېر ته عشق چېر ته د شرم حیا ویره — نڅېده نه شی په شرم په حیا کې
په ورټ ورټ ورپسې ژاړه که یار غواړې — مونده کېږی دغه در په دا دریا کې
دم قدم د کس نا کس له دره ژغوری — دا چه گرځی لیونی تل په صحرا کې

بوت پرست وائی حمید و هغه کس ته
چه بندگی کوی دخدای په روریا کې

شپه اورځ مې دغه خواست دی په دنیا کښې — که مې خوا دهغه یار راشی په خوا کې
که جنت لیدلی نه دی په دنیا چا — وصالت دیار جنت دی په دنیا کې
دجنت هوا هوس شوله ما پاتی — دخوبا نو په هوس او په هوا کې
آرزو مندئې په تش خیال دیار دمخ کړم — لامې نه پېریږدی رقیب پسې په دا کې
سپینی زېری زما عشق کوته پیسه کړه — هېڅ ئې نه قبلوی ښکلی په سودا کې
که د ل په څېر گریوان کړم ورته څېرې — لکه صبح خور خور کېږی په خندا کې
که دې زړه غواړی خندا د گلبد نو — رونړوه لکه شبنم شپه په ژړا کې
لکه زه دتورو ستر گو په تور نښلم — هېڅوك مشه مبتلا په دا بلا کې

خدایه و کړی په حمید دهغو سوری
چه ئې یاروی په سلا او په رضا کې

همه عمر ولاړ ښه یم په سره اور کې — نه بی یاره دشا هی په شرو شور کې
سرې لمبی ستی ' سهی په صورت باندې — سهیدی نه شی بی یاره په پېغور کې
ما ته سر په د نیا و ښو دلی مینی — کل خواری چه ویلی شی په گور کې
ژر به سم د بېلتا نه په یوه تاوشی — که غلط چا څخه ځان وی په خپل زور کې

---

(۱) کښ په اوسنی املاك کښې، (کې) لیکل کېږی

چه په ښکلو پسی ژاړم و چی شونډې — تماشه د بحرو بر کوم په کور کې (۱)
هسی رنګ می شور و غم گرځی په سر کی — لکه شور د جمع خلق وی په لاهور کې
لا هلک به ئی وژلی وم په زهرو — که می وای مهر، شفقت په پلار و مور کې
چه چراغ د یار د مخ را نه بل نه وی — زه په گور گنمه خپل سر په دا کور کې
که نور څوك غندی سیاهی د هند د ښکلو — نورانی جلوه کوی ماته په نور کې

له حمیده صبر مه غواړه ناصحه !
دغه توان ور څخه لاړ د عشق په نور کې (۲)

که و کاږی مې څوك ستر گې په پېغور کې — یا می سر له تنه ځی د عشق په نور کې
هر زحمت را ته راحت کړ و عاشقی — سمندر غوندې گلگشت کوم په اور کې
په مد د دوچ کو گل د لمد و ستر گو — تماشه د بحرو بر کوم په کور کې
دا دولت دی د سپین مخ د تور و ستر گو — چه می شته اور اولو گی د زړه په کور کې
د خو بانو هلك غم به ئې زور زوم کړی — که رستم د زمانې وی په خپل زور کې
هغه وست د محبت په صحرا موند شی — چه مونده نه شی په ښهر د لاهور کې
توری زلفې سپین رخسار به مې هېر نه شی — که مې واړوی ناصح په سپین او تور کې
په هر داغ می د خپل زړه هسی باور دی — چه په مرگ به را ته شمع شی په گور کې

لاړ به نه شی ځنی تور د تور و زلفو
سرو مال که د حمید ځی په دا تور کې

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کې
دائې غاښ په خوله کې زېب کا که ژاله شوه په لاله کې
هسې رنګ سحر و جادو کړی په نظر د شهلا ستر گو
نه ئې سیال په هند کې شته دی نه ثانی په بنگاله کې
لکه و نښلی مرغۍ په سست دام د سلو لو مو
هسې رنګ پرېشا نو زلفو کېیستم په کشاله کې

---

(۱) دا بیت په قلمی نسخه کې نشته
(۲) په قلمی نسخه کی (د عشق په شور کې) راغلی دی،

په پښتو ټولنه کې

۱ـ خو شحال خټك څه وائی؟ کتاب چه د کابل په مجله کښی پرله پسی نشر پده، اوس په ځانله هم په ښه چاپ په ۱۸ پښتو حروفو په (۱۵۸) صحفو کښی له چاپ څخه فارغ شوی دی.

ددې کتاب په چاپیدو سره د پښتو ټولنی د مستقلو نشریاتو پرله پسې نمبر (۹۸) ته رسیږی.

مونږ ټولو پښتنو ته ددې کتاب دلوستلو توصیه کوو او ښا غلی بینوا ددې کتاب مؤلف ته تبریک وایو.

۲ـ په دې میاشته کښی د پښتو دائرة المعارف د دوهم جلد د طبعی کار شروع شوی دی امید دی چه د پښتو دائرة المعارف دوهم جلد به زر ترزره چاپ شی اود شوقمندانو د مطالعی دپاره به میدان ته را ووځی.

3
Copy
5
21
52

کابل

دیوه کال قیمت

د کابل په ښار کښې : ۳٦ افغانۍ

په دننه هېواد کښې : ٤۰ افغانۍ

په نورو ملکونو کښې : ٤ دالره

د ښوونځیو زده کوونکوته : نیمه بیه

یوه کڼه : دوه افغانۍ